د افغانستان بانک












- پولي سیاست
- د افغانستان مالي نظام
- د تادیاتو سیستم
- د بازار عملیات
- مالي صورت حساب
- بانکي عملیات
- اداره او پراختیا

# کلنی راپور
# سالانه

# ۱۳۹۲

1939
DA AFGHANISTAN BANK

د افغانستان بانک












# کلنی راپور
# سالانه

# ۱۳۹۲

**د افغانستان بانک کلنی راپور**

**د اسناد او اړیکو عمومي آمریت**

**د خپرونو او اړیکو معاونیت**

**د خپرونو مدیریت**

**چمتو کوونکی:** عبداللطیف بایاني

**عکس:** زیرک ملیا

**ژباړه:** عین الله عیان

**ډیزاین:** خالد احمد فیضي

**پته: د افغانستان بانک، ابن سینا واټ، کابل – افغانستان**

**ټلیفون:** ۲۱۰۳۸۱۵- ۲۱۰۴۳۶۱- ۰۲۰

**برښنا لیک:** info@centralbank.gov.af

**ویب پاڼه:** www.centralbank.gov.af

# د افغانستان بانک مشر تابه پلاوی



د افغانستان بانک لوی رئیس
نورالله دلاروي



د افغانستان بانک لومړی مرستیال
خان افضل هډه وال



د افغانستان بانک دویم مرستیال
الحاج محمد عیسی طراب

## د مطالبو لړلیک


**د افغانستان بانک د لوی رئیس پیغام** ........ الف

۱- **پولي سیاست** ........ ۱
- سیالیت (نقدینه ګی) ........ ۱
- د پولي سیاست ابزار ........ ۲
- د افغانی د مبادلې نرخ ........ ۳
- د ۱۳۹۲ مالي کال په اوږدو کې د پولي او اسعاري سیاست ارزونه ........ ۳
- د افغانستان بانک اسعاري زېرمې ........ ۳
- په اقتصادي عمده متحولونو کې بدلونونه ........ ۴
- د پولي سیاست د پلي کیدو په برخه کې ننګونه ........ ۵

۲- **مالي نظام** ........ ۶
- ټولیزه شتمني ........ ۸
- ټولیزه پورونه ........ ۸
- ټولیزه امانات ........ ۱۲
- ټولیزه پانګه ........ ۱۲
- ګټه ........ ۱۳
- سیالیت ........ ۱۴
- د اسعارو پرانېستی وضعیت ........ ۱۴
- د افغان اماناتو د بیمې اداره (ADIC) ........ ۱۵
- د عامه اعتباراتو د ثبت اداره(PCR) ........ ۱۷

۳- **د تادیاتو سیستم** ........ ۲۱
- نړیوال تادیات ( SWIFT ) ........ ۲۱
- د بانکونو ترمنځ تادیات ( ACSS) ........ ۲۱
- د نمایندګیو ترمنځ تادیات (AFTS) ........ ۲۲
- د چکونو د تسویې او تصفیې برخه (Clearing House) ........ ۲۲
- عمده کړنې ........ ۲۲

۴- **د بازار عملیات** ........ ۲۴
- ریزرف شتمنی ........ ۲۴
- د اسعارو لیلام ........ ۲۴
- د بیه لرونکو پاڼو لیلام ........ ۲۴
- لیتراف کریډټونه ........ ۲۴

۵- **بودجه او مالي صورت حساب** ........ ۲۵
- بیلانس شیټ ........ ۲۸

- د عوايد و صورت حساب ........ ۲۹
- د پيژندل شويو عوايدو او مصارفو صورت حساب ........ ۳۰
- د نغدي جريان صورت حساب ........ ۳۱

۶- **بانکي عمليات** ........ ۳۳

۷- **اداره او پراختيا** ........ ۳۵

- د ټولو ناظر اداره ........ ۳۵
- اسناد او اړيکې لوی آمريت ........ ۳۶
- حقوقي مشاوريت ........ ۴۰
- معلوماتي تکنالوژی ........ ۴۱
- بشري منابع ........ ۴۳
- خدمات ........ ۴۵

## د جدولونو لړلیک


۱ جدول په هېواد کې د کورني ناخالص تولید وده.....۴
۲ جدول په هېواد کې د بانکي نظام اسانتیاوې.....۷
۳ جدول د بانکي نظام د کارتونو شمېر.....۷
۴ جدول د بانکي نظام د ټولیزه پورونو ډله بندي.....۹
۵ جدول د کوچنیو او منځنیو پورونو د سلنې د ودې څرنګوالی.....۱۰
۶ جدول د ۱۳۹۲ کال د لیندۍ میاشتې له مخې د بانکي نظام د ناخالصه پورونو تفکیک.....۱۰
۷ جدول په ولایتونو کې ( له جغرافیایي پلوه) د پورونو وېش.....۱۱
۸ جدول د ۱۳۹۲ کال د لیندۍ میاشتې له مخې د سکتوري پورونو وېش.....۱۱
۹ جدول د مسفا د شریکانو په هکله عمومي جزئیات.....۱۱
۱۰ جدول د ۱۳۹۲ کال د لیندۍ د میاشتې په پای کې د بانکي نظام جاري، میعادي او د سپما حسابونه.....۱۲
۱۱ جدول ۱۳۹۲ کال لپاره د بانکي نظام د کارکوونکو، پوروړو، امانت ایښودونکو او نورو پیرودونکو شمېر.....۱۵
۱۲ جدول د ۱۳۹۱ کال له مرغومې څخه د ۱۳۹۲ تر مرغومې پورې د بانکونو حق البیمه.....۱۵
۱۳ جدول د افغان اماناتو د بیمې په اداره کې د سوداګریزو بانکونو د غړیتوب څرنګوال.....۱۶
۱۴ جدول سودا ګریزو بانکونو څخه د حق البیمې د وضع کولو سلنه.....۱۶
۱۵ جدول د بیه لرونکو پاڼو په لیلام کې د افغان اماناتو د بیمې اداري د ګډون څرنګوالی.....۱۶
۱۵ جدول په د افغانستان بانک کې د ناروغانو شمېر او د درملو بیه.....۱۷

**د ګرافونو لړلیک**


۱ ګراف د۱۳۹۲ کال لپاره د پولي زېرمو د ودې کچه ........................ ۲
۲ ګراف د امریکایي ډالرو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلوي نرخ اوسط ........................ ۳
۳ ګراف په سیمه کې د مصرفوونکو د بیو د شاخص په بنسټ د پولي پړسوب نرخ ........................ ۳
۴ ګراف د ۱۳۹۲ مالي کال په ترڅ کې د هېواد خالصه اسعاري زېرمې ........................ ۳
۵ ګراف له ۱۳۸۴ کال څخه تر ۱۳۹۲ کال پورې د پولي پړسوب د نرخ بدلونونه ........................ ۵
۶ ګراف د پولي خدماتو د وړاندې کوونکو او صرافانو د زیاتیدو بهیر ........................ ۸
۷ ګراف له ۱۳۸۶ کال څخه د ۱۳۹۲ کال تر لیندۍ میاشتې پورې د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو د ودې بهیر ........................ ۸
۸ ګراف له ۱۳۸۶ کال څخه تر ۱۳۹۲ کال پورې د بانکي نظام په ټولیزه شتمنیو کې د بانکي ګروپونو ونډه ........................ ۸
۹ ګراف له ۱۳۹۰، ۱۳۹۱ څخه د ۱۳۹۲ تر لیندۍ میاشتې پورې د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو د ودې څرنګوالی ........................ ۸
۱۰ ګراف د ۱۳۹۲ مالي کال په اوږدو کې د بانکي نظام د پورونو بهیر ........................ ۹
۱۱ ګراف د ۱۳۹۲ مالي کال په ترڅ کې د ناخالصه صعب الحصول پورونو او د حصول وړ پورونو نسبت ........................ ۱۰
۱۲ ګراف د ۱۳۹۲ کال په ترڅ کې د بانکي نظام ټولیزه پورونه او امانات ........................ ۱۲
۱۳ ګراف د ۱۳۹۲ کال په ترڅ کې د بانکي نظام د ټولیزه اماناتو د ودې بهیر ........................ ۱۲
۱۴ ګراف د ۱۳۹۲ کال په ترڅ کې د بانکي نظام ټولیزه پانګه ........................ ۱۳
۱۵ ګراف د دولتي بانکونو، خصوصي بانکونو او د بهرنیو بانکونو د نمایندګیو په تفکیک د بانکي نظام ګټه او تاوان ........................ ۱۴
۱۶ ګراف د ۱۳۸۸–۱۳۹۲ کلونو په اوږدو کې د حق البیمې او د افغان اماناتو د بیمې راټولول ........................ ۱۷
۱۷ ګراف د ۱۳۹۲ مالي کال په ترڅ کې د نړیوال تادیاتو له لارې د وارده او صادره معاملو ارزښت ........................ ۲۱
۱۸ ګراف د ۱۳۹۲ مالي کال په ترڅ کې د ACSS له لارې افغانۍ او اسعاري معاملې ........................ ۲۲
۱۹ ګراف د ۱۳۹۲ مالي کال په ترڅ کې د نمایندګیو ترمنځ د تادیاتو برخې له لارې د افغانۍ معاملو ارزښت ........................ ۲۲
۲۰ ګراف د کلیرنګ هاوس لخوا د تصفیه شویو چکونو مبلغ ........................ ۲۲
۲۱ ګراف د ۱۳۹۲ کال په ترڅ کې د بیه لرونکو پاڼو لیلام ........................ ۲۴
۲۲ ګراف د بودجې د شقوقو زیاتوالی او کموالی ........................ ۲۶
۲۳ ګراف د افغانستان بانک د ۱۳۹۲ کال په بودجه کې د عوایدو شقوق ........................ ۲۶
۲۴ ګراف د افغانستان بانک د ۱۳۹۲ کال په بودجه کې لګښتي شقوق ........................ ۲۷
۲۵ ګراف د افغانستان بانک د ۱۳۹۲ کال په بودجه کې د مخارجو شقوق ........................ ۲۷
۲۶ او ۲۷ ګراف د ټولو ناظر اداري کاري اجراات او کړنې ........................ ۳۶

# د افغانستان بانک د لوی رئیس پیغام

د افغانستان بانک د عالي شورا او مشر تابه پلاوي په استازیتوب خوښ یم چې د ۱۳۹۲ مالي کال د کړنو کلنی راپور چې د پولي سیاست، د بازار عملیات، د تادیاتو سیستم او د افغانستان د مالي نظام د کړنو ترڅنګ د افغانستان بانک د اداري او پراختیا بهیر او څرنګوالی رانغاړي، د عامه خلکو، محصلینو، اکاډمیکې ټولنې او دولتي او خصوصي ادارو پوهاوی لپاره وړاندې کوم.

د افغانستان بانک د ۱۳۹۲ مالي کال په ترڅ کې په مطلوب حد کې د پولي پړسوب د ساتلو، د افغانی د مبادلې نرخ له سختو نوساناتو د مخنیوی او د اسعاري زېرمو د ودې په برخو کې بې دربغه هلې ځلې کړې چې مطلوبه پایله یې درلودلې ده.

د ۱۳۹۲ کال په لومړیو کې د پولي پړسوب نرخ شاوخوا ۶.۲۱ سلنه ؤ چې دغه شمېره په راتلونکي میاشت کې ۷.۲۵ سلنه زیاته شوه، د ۱۳۹۲ مالي کال په منځ کې تورم خپل لوړې کچې (۹.۱۶ سلنې) ته ورسېد، خو د ۱۳۹۲ مالي کال په پای کې ۶.۸۲ سلنې ته راټیټ شو.

همدا ډول د کورنیو ناخالصو تولیداتو حقیقي وده ۶.۴ سلنه اټکل شوې چې د ټیټوالي لامل یې، په نړیوالو مرستو کې احتمالي ټیټوالی او امنیتي ستونزې په ګوته شوي دي چې دا کار د نا کرنیزو سکتورونو د ودې د ټیټوالي لامل شوی دی.

د ۱۳۹۲ مالي کال د پیل په پرتله د همدې کال په پای کې د امریکایي ډالرو پر وړاندې د افغانی ارزښت، شاوخوا ۸.۶ سلنه ټیټ شوی دی. د ۱۳۹۲ مالي کال په لومړیو کې د امریکایي ډالرو پر وړاندې د افغانی د مبادلې د نرخ اوسط ۵۲.۱۶ ؤ په داسې حال کې چې د همدې کال په پای کې یو ډالر د ۵۶.۶۴ افغانی پر وړاندې مبادله کیده. د دې ټیټوالي لامل په ټولیزه توګه له ۲۰۱۴ میلادي کال وروسته د نړیوالو ځواکونو د وتلو له امله په هېواد کې د نا ډاډمن چاپیریال موجودیت دی.

د افغانستان بانک اسعاري زیرمې د هېواد له سترو لاسته راوړنو څخه ګڼل کیږي. د ۱۳۹۲ مالي کال په پای کې د هېواد د خالصه اسعاري زېرمو کچه شاوخوا ۶.۶۷۹ ملیارده وه او د همدې مالي کال د پیل په پرتله نژدې ۲۴۴ ملیونه ډالره زیاتوالی ښکاره کوي.

په ۱۳۹۲ هجري لمریز کال کې د افغانستان بانکي نظام ښه ګټه درلوده. په ۱۳۹۲ کال کې د بانکي نظام ټولیزه شتمني ۲۴۵.۶۶ ملیارده افغانی ته رسیږي چې د تیر کال په پرتله ۹.۷۵ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د ۱۳۹۲ کال د لیندۍ میاشت کې د بانکي نظام ټولیز ناخالص پورونه ۴۶.۹۴ ملیارده افغانی ته رسیدلي چې د تیرې دورې (د ۱۳۹۱ د لیندۍ) په پرتله یې ۱۱.۳۳ سلنه زیاتوالی درلودلی دی. همدا ډول د ۱۳۹۲ مالي که په پای کې د پیرودونکو امانات ۲۰۷.۸۲ ملیارده افغانی ته رسیږي چې د تیرې دورې (د ۱۳۹۱ کال د لیندۍ) په پرتله ۸.۱۰ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د بانکونو پانګه هم د تیر کال د لیندۍ میاشتې په پرتله ۶۹.۴۳ سلنه زیاتوالی درلودلی چې عمده لامل یې د ګټې، د پانګې د تزریق او د بهرنیو بانکونو د نمایندګیو د مالي پانګې ټیکاو او زیاتوالی دی. د ۱۳۹۲ مالي کال تر پای پورې په ټولیزه توګه د افغانستان بانکي نظام ۱.۴۳ ملیارده ګټه کړې ده.

د افغانستان بانک په ۱۳۹۲ مالی کال کې په ټولیزه توګه د اداري، پراختیا، د بانکي قوانینو او مقرراتو په برخه کې بې ساري لاسته راوړنې درلودلې او د خپلو کارکوونکو د ظرفیت په لوړولو کې یې نه ستومانه کیدونکې هلې ځلې کړې دي. زه د افغانستان بانک د ټولو کارکوونکو له زیار او هاند څخه چې د چارو د لا ښه والي لپاره یې ترسره کړی، د زړه له کومې مننه کوم او د افغانستان بانک موخو ته د رسیدو په برخه کې د الله (ج) له دربار څخه د دوی د لا بریالیتوبونو هیله کوم.

په درنښت

نورالله دلاوري

د افغانستان بانک لوی رئیس

# پولي سیاست



# پولي سیاست

پولي سیاست د مالي سیاست تر څنګ د عمومي اقتصادي سیاستونو د رهبرۍ له مهمو او بنسټیزو رکنونو څخه دی چې د اقتصادي کړنو د ودې لپاره د مناسبو زمینو په برابرولو کې بنسټیز رول لوبوي.

پولي سیاست د پولي وسایلو او ابزارونو په مرسته د تولیز تولید او تولیزې تقاضا ترمنځ د یو انډول د رامنځ ته کولو له لارې د پولي ارزښت او د بیو د مطلوبې کچې استقرار ته د رسیدو لپاره د اقتصادي هدفونو د تحقق په موخه د مساعدې فضاء رامنځ ته کولو لپاره د مشخصو تدابیرو او اقداماتو مجموعه ده.

د افغانستان بانک د هېواد د پولي سیاستونو د کنټرول او ارزونې په موخه درې مقداري موخې ټاکلي دي:

۱- د پولي زېرمو (Reserve Money) ودې لپاره د کچې ټاکل

۲- په ګردښت کې د پیسو (Currency in Circulation) ودې لپاره د کچې ټاکل

۳- د هېواد د اسعاري زیرمو د کچې ټاکل

پورته یاد شوي موخې د یو کال لپاره ټاکل کیږي او په منظمه توګه تر ارزونې لاندې نیول کیږي چې له نیکه مرغه د افغانستان بانک په ۱۳۹۲ کال کې توانیدلی دی چې د خپل مخکې ټاکل شویو موخو ته ورسیږي.

د افغانستان بانک په هېواد کې د اقتصادي کړنو د پام وړ پراختیا په پام کې نیولو سره د ۱۳۸۹ کال څخه راپدېخوا پولي زېرمې (Reserve Money) چې په ګردښت کې پیسې، د سوداګریزو بانکونو جاري حسابونه، د سوداګریزو بانکونو د شپې اسانتیاوې او د سوداګریــــزو بــانکونو الــزامي زېرمې (Required Reserves) په بر کې نیسي او د افغانستان بانک سره اېښودل کیږي، د نقدینه ګۍ د سنجش د شاخص په توګه په پام کې نیسي چې کچه یې د هېواد د اقتصادي ودې په پام کې نیولو سره ټاکي. د افغانستان پولي سیاست د پولي پړسوب د کنټرول او همدا ډول د بهرنیو اسعارو پر وړاندې د افغانۍ د ارزښت د ثابت ساتلو په موخه د پولي کمي شاخصونو د کنټرول له لارې عیار شوی دی.

د یادونې وړ ده چې د ۱۳۹۲ مالي کال په اوږدو کې د پولي سیاست لوی آمریت د خپل کاري استقامت په اړانه کې د مهمو لاسته راوړنو شاهد دی چې د بېلګې په توګه کولای شو په مطلوب حد کې د پولي پړسوب ساتل، د افغانۍ په مبادلوي نرخ کې ثبات، د هېواد د اسعاري زېرمو وده او همدا ډول د هېواد اقتصادي وده کې له پراخه او فعاله ګډون څخه یادونه وکړو.

## نقدینه ګۍ


د افغانستان بانک د بانکي سکتور د پرمختیا او همدا ډول د هېواد د اقتصادي وضعیت د څرنګوالي په پام کې نیولو سره پولي زېرمې (Reserve Money) د نقدینه ګۍ د سنجش د لومړي شاخص په توګه ټاکلي دي.

**پولي زېرمې (Reserve Money)**: پولي زېرمې چې په ګردښت کې پیسې، د سوداګریزو بانکونو جاري حسابونه، د سوداګریزو بانکونو د شپې د اماناتو اسانتیاوې او د سوداګریزو بانکونو الزامي زېرمې (Required Reserves) رانغاړي او د افغانستان بانک سره اېښودل کیږي، د ۱۳۹۲ مالي کال په پیل کې له ۱۷۶.۷۰۸ ملیارده افغانۍ څخه د همدې کال په پای کې ۱۹۸.۷۷۵ ملیارده افغانۍ ته لوړې شوي دي. د ۱۳۹۲ مالي کال لپاره د پولي زېرمو او په ګردښت کې د پیسو وده ۸ سلنه اټکل شوې چې دې کمې موخې ته د رسیدو لپاره یو شدیداً انقباضي سیاست اجراء کولو ته اړتیا وه. د افغانستان بانک وکولی شو چې د کال په لومړیو دریو ربعو کې یاد شوی هدف په بریالیتوب سره لاسته راوړي. د کال په پای کې د پولي زېرمې وده شاوخوا یوولس سلنې ته ورسیده چې د دې زیاتوالي لامل د بیه لرونکو پاڼو په کچه کې شاوخوا پنځه ملیارده افغانۍ ټیټوالی او د مالي کال په وروستیو اونیو کې د دولت د لګښتونو زیاتوالی دی.که چېرته په بیه لرونکو پاڼو او

د دولت په عوایدو کې ټیټوالی راغلی نه وای، نو پولي زېرمو به له ۸ سلنې زیاته وده نه درلوده. په همدې ترتیب، د پېرسوب د نرخ وروستی شمېرې ښکاره کوي چې له ټاکل شوي هدف څخه زیاتې ودې د بیو په عمومي کچې باندې ناوړه اغېزې درلودلې نه دي.

د پولي زېرمو د کچې د کنټرولولو په موخه کارول کیږي د بیه لرونکو پاڼو (Capital Notes) له پلور څخه عبارت دی چې په اوونی کې یو ځل په سوداګریزو بانکونو پلورل کیږي. د یادونې وړ ده چې د افغانستان بانک له دې ابزار څخه په لا زیاتې ګټې اخیستنې سره کولای شي د اسعارو پر پلور د اتکاء کچه راټیټه کړي.

۱ ګراف ۱۳۹۲ کال لپاره د پولي زېرمو د ودې کچه ښکاره کوي.




منبع: د پولي سیاست لوی آمریت

## د پولي سیاست ابزار

د افغانستان بانک د پولي زېرمو د کچې د کنټرولولو په موخه له دوو وسیلو یعنې د اسعارو پلور او بیه لرونکو پاڼو له لیلام څخه کار اخلي.

**د اسعارو پلور:** د اسعارو پلور د اسعارو د پیر او پلور د مقررې په اډانه کې د ازادې او رڼې پروسې له لارې د سوداګریزو بانکونو او جواز لرونکو صرافانو په ګډون په اونۍ کې دوه ځلې د افغانستان بانک لخوا په لار اچول کیږي. د افغانستان بانک په ګردښت کې د پیسو د کچې د کنټرول په موخه د ۱۳۹۲ مالي کال له پیل څخه د لیندۍ میاشتې تر پایه پورې شاوخوا ۳.۴۹۶ ملیارده امریکایي ډالره پلورلي دي.

**د بیه لرونکو پاڼو لیلام:** دویم ابزار چې د افغانستان بانک لخوا د افغانستان بانک د ۱۳۹۲ کال د وري د میاشتې له پیل څخه د ۲۸ ورځني او ۱۸۲ ورځني بیه لرونکو پاڼو تر څنګ یــو کلن (۳۶۴ ورځنۍ) سر رسید مهال سره بیه لرونکې پاڼې معرفي کړې چې دا کار په دې پاڼو کې د پانګونې زمینه زیاتوي. همدا ډول د افغانستان بانک په پام کې لري څو د بیه لرونکو پاڼو د ثانوي بازار په دودیدو سره، د نقدینه ګۍ په کنټرول کې د دې ابزار ونډه زیاته کړي. د بیه لرونکو پاڼو کچه د ۱۳۹۲ مالي کال په وروستیو کې ۳۰.۶۶۴ ملیارده افغانۍ کېدله چې د تیر کال په پرتله نژدې ۱۷ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي.


د افغانستان بانک د یاد شوي ابزارو د کارولو تر څنګ، نور پولي وسایل او ابزار لکه اجباري زېرمې(Reserves Required) هم په واک کې لري چې د اړتیا په صورت کې د احتیاطي – ځارنیزو

موخو د تأمينولو سربېره د پولي سياست د اجراء په موخه هم کار ترې اخيستل کيږي. اوس مهال په افغانستان کې د اجباري زېرمو د اماناتو نسبت ۸ سلنه ده.

### د افغانۍ د مبادلې نرخ:

د کال د پيل په پرتله د ۱۳۹۲ مالي کال په پای کې د امريکايي ډالرو پر وړاندې د افغانۍ ارزښت شاوخوا ۸.۶ سلنه ټيټوالی درلودلی دی. د ۱۳۹۲ مالي کال په لومړيو کې د امريکايي ډالرو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې د نرخ اوسط ۵۲.۱۶ ؤ په داسې حال کې چې د همدې کال په وروستيو کې يو ډالر د ۵۶.۶۴ افغانۍ پر وړاندې مبادله کيده چې د دې ټيټوالي لامل له ۲۰۱۴ ميلادي کال وروسته د نړيوالو ځواکونو په وتلو سره په هېواد کې د نا ډاډمنې فضاء موجوديت دی.

۲ ګراف د امريکايي ډالرو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلوي نرخ اوسط ښکاره کوي.





منبع: د افغانستان بانک د پولي سياست لوی آمريت

### د ۱۳۹۲ مالي کال په ترځ کې د هېواد د پولي او اسعاري سياست ارزونه:

د يوې لنډې ارزونې له مخې کولای شو ووايو چې په تيرو څو کلونو کې د افغانستان بانک پولي او اسعاري سياست د ټاکل شويو موخو په تأمينولو کې بريالی دی. څرنګه چې مخکې ويل شوي د افغانستان بانک لومړنۍ موخه د کورنيو بيو ثبات دی او همدا ډول پر اقتصادي شاخصونو د افغانۍ د مبادلې د نرخ د نوساناتو منفي اغيزو ته متوجې دی او هڅه کوي چې د افغانۍ ارزښت په منل شوې کچه ثابت وساتي. د پولي پړسوب او د مبادلې نرخ د شاخصونو شمېرې او ارقام ښکاره کوي چې افغانستان د سيمې د هېوادونو په پرتله په دې برخو کې بريالی کړنې درلودلې دي.

د افغانستان د مرکزي اداري د وروستيو شمېرو له مخې، د پولي پړسوب نرخ د ۱۳۹۲ مالي کال د لينډۍ مياشت کې شاوخوا ۷.۲ سلنه اټکل شوی دی چې د سيمې د هېوادونو په پرتله په ښه وضعيت کې قرار لري. د بېلګې په توګه د تلې مياشت (۲۰۱۳ October) کې د پاکستان د پولي پړسوب نرخ ۹.۱ سلنه، د ايران د پولي پړسوب نرخ ۳۲.۳ سلنه او د هندوستان د پولي پړسوب نرخ ۷ سلنه اټکل شوی دی.

۳ ګراف په سيمه کې د مصرفوونکو د بيو د شاخص له مخې د پولي پړسوب نرخ ښکاره کوي




منبع: د افغانستان بانک د پولي سياست لوی آمريت

### د افغانستان بانک اسعاري زېرمې:

د ۱۳۹۲ مالي کال په پای کې د هېواد د اسعاري زېرمو کچه شاوخوا ۶.۶۷۹ ملياره ډالره وه چې د همدې مالي کال د پيل په پرتله کابو ۲۴۴ مليونه ډالره زياتوالی ښکاره کوي.

۴ ګراف د ۱۳۹۲ مالي کال په ترځ کې خالصه اسعاري زېرمې ښکاره کوي.




منبع: د افغانستان بانک د پولي سياست لوی آمريت

## په اقتصادي عمده متحولونو کې بدلونونه:

### اقتصادی وده:

پــه ۱۳۹۱ کــال کــې د افغانستان اقتصادي وده شاوخـوا ۱۰.۹ سلنه اټکل شوې چې له دې ډلې په ټوليزه ناخالصه کورني توليداتو کې د کرنې سکتور کمه ونډه او د خدماتو سکتور زياته ونډه درلودلې ده. په دې دوره کې د کرنې سکتور وده ۳.۳ سلنه وه، په داسې حال کې چې د خدماتو سکتور د ۱۶ سلنې ودې ښکارندوی دی چې په دې حالت کې ۱۳۹۲ مالي کال لپاره د کورني ناخالص توليد وده ۶.۴ سلنه اټکل شوې ده. په ۱۳۹۲ کال کې د اقتصادی ودې د ټيټوالي تر ټولو مهم لامل په نړيوالو مرستو کې احتمالي ټيټوالی او همدا ډول په هېواد کې امنيتي ستونزې ښودل شوي چې دا حالت د نا کرنيزو سکتورونو د ودې د ټيټوالي لامل شوی دی.

۱ جدول په هېواد کې د کورني ناخالص توليد وده (GDP) ښکاره کوي

| شاخصونه | ۱۳۸۸ | ۱۳۸۹ | ۱۳۹۰ | ۱۳۹۱ | ۱۳۹۲ اټکل |
|---|---|---|---|---|---|
| د ناخالصه ملي توليداتو د واقعي ودې سلنه (٪) | ۱۷.۲ | ۳.۲ | ۸.۷ | ۱۰.۹ | ۶.۴ |
| د ناخالصه ملي توليداتو اسمي وده ( په مليارد افغانی) | ۶۳۲.۷ | ۷۴۶.۹ | ۸۹۶.۲ | ۱۰۸۶.۲ | **۱۱۹۷.۲** |
| * د سړي سر عايد (امريکايي ډالر) | **۵۰۵** | **۶۲۹** | **۷۰۹** | **۷۷۹** | **۷۷۲** |

د ارقامو منبع: د احصايې مرکزي اداره

نيمايي کې بيرته راټيټ شو. د پولي پړسوب نرخ د ۱۳۹۲ مالي کال په وروستيو کې ۶.۸۲ سلنې ته ورسيده. د عمومي پړسوب په نرخ کې د نوساناتو لامل د خوراکي توکو په شاخص کې بدلونونه دي. په ګاونډيو هېوادونو (عمدتاً په چين او هند ) کې د خوراکي توکو د بيو ټيټوالی، په هېواد ( په ځانګړې توګه د هېواد په شمالي او مرکزي سيمو کې) کرنې لپاره د اوبو او هوا مناسب شرايط هغه عوامل دي چې د همدې کال په شپږو وروستيو مياشتو کې د خوراکي توکو پر بيو يې اغيزه کړې ده او د پولي پړسوب د نرخ د ټيټوالي لامل شوی دی. له بلې خوا، د نا خوراکي توکو په اجزاوو کې بدلونونه د اقتصادي سياست جوړونکو د لا زياتې پاملرنې وړ ګرځيدلی ځکه د هېواد په کچه د اقتصادي کړنو څرنګوالی منعکسوي. د پولي پړسوب نرخ د سنجش بل معيار له اصلي پړسوب يا هستې(Core Inflation) څخه عبارت دی چې په هغه کې د

### پولي پړسوب (تورم):


د پولي پړسوب نرخ چې د ملي بيو د مصرفوونکي شاخص (National CPI) د کلني بدلونونو د سلنې له مخې محاسبه کيږي د ۱۳۹۲ مالي کال په پيل کې شاوخوا ۶.۲۱ سلنه ؤ چې دا شمېره د همدې کال په نورو مياشتو کې ۷.۲۵ سلنه زياتوالی موندلی دی. دې بهير په نورو مياشتو کې همدا ډول صعودي بهير درلوده چې د ۱۳۹۲ مالي کال په منځ کې خپل لوړ حد ته، يعنې ۹.۱۶ سلنې ته ورسيده چې وروسته د کال په دويمه

زياتو نوساناتو لرونکي اقلام حذف کيږي. د هستې پړسوب د سنجش لپاره يو له دوديزو طريقو څخه د قيچي کاری ميتود او يا (Trimmed Mean) دی چې په دې ميتود کې هغه اقلام چې تر څېړنې لاندې دوره کې يې تر ټولو زيات بدلون درلودلی دی له عمومي شاخص څخه حذف کيږي. د پولي پړسوب نرخ چې د دې معيار په بنسټ سنجش کيږي د مالي کال په پيل کې شاوخوا ۵.۳۱ سلنه ؤ چې د همدې کال په پای کې ۵.۵۷ سلنه زيات شوی دی.

* د سړي سر د عايد د ټيټوالي لامل په همدې کال کې د امريکايي ډالرو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې په نرخ کې ټيټوالي ؤ.

۵ ګراف د ۱۳۸۴ کال څخه تر ۱۳۹۲ کاله پورې د پولي پړسوب د نرخ بدلونونه ښکاره کوي.

په ورځنیو راکړو او ورکړو کې د بهرنیو اسعارو د نه کارولو په برخه کې د پام وړ ښه والي او په افغانیو د ځینو تړونونو د





منبع: د احصائیې مرکزي اداره او د پولي سیاست د لوی آمریت د کارکوونکو د محاسبو سنجش

## د پولي سیاست د پلې کیدو په برخه کې ننګونه:

د هر سیاست پلي کول په هر هېواد کې یو لړ ځانګړو شرایطو ته اړتیا لري. د پولي سیاست پلي کول هم په نورو اقتصادي شاخصونو او برخو کې د هېواد د مالي سیاستونو له ډلې اغیزمن شوی او د همغږۍ ایجاب کوي. تیر کال د افغانستان بانک د پولي سیاست د پلې کیدو پر مهال د یو لړ ننګونو شاهد ؤ. د بېلګې په توګه کولای شو له ۲۰۱۴ کال وروسته په هېواد کې د سیاسي او امنیتي وضعیت له کبله د خلکو د اندېښنو د موجودیت له امله په هېواد کې د اقتصادي کړنو د ټیټوالي څخه یادونه وکړو.

اجراء سره سره د کورنیو بیو د ثبات او همدا ډول د افغانۍ په ارزښت کې یې نسبي ټیکاو رامنځته کړی دی، خو دا پدیده بیاهم د پولي سیاست د پلي کیدو پر وړاندې د یو عمده ننګونې په توګه پاتې شوې ده. سربېره پر دې، د اقتصادي متحولونو په هکله د څېړنې، ارزونې، وړاند وینې او سیاست جوړونې لپاره ارقامو او لازمه معلوماتو ته نه لاسرسي او په لاسرسي کې ځنډ د پولي سیاست د پلي کیدو پر وړاندې له مهمو ستونزو څخه شمېرل کیږي.

# مالي نظام



# مالي نظام

د هېواد مالي نظام چې يو له بريالیو نظامونو څخه ګڼل کيږي، په دې وروستيو کلونو کې د پام وړ لاسته راوړنې درلودلې دي چې په دې ترتيب يې د هېواد د اقتصادي ودې په پراختيا کې خپل رول په سمه توګه ترسره کړی دی. د افغانستان مالي نظام چې د بازار اقتصاد د سيستم په اډانه کې فعاليت کوي يو نوی نظام دی چې خپلو پيرودونکو لپاره ارزښتناکه خدمات وړاندې کوي. بانکي نظام چې د هېواد د مالي نظام يوه برخه ده په ۱۳۹۲ مالي کال کې د ټوليزه شتمنيو، اماناتو، ګټې او سياليت له امله په ښه حالت کې قرار درلوده. دلته لومړی په لنډه توګه مالي نظام تر مطالعې لاندې نيسو او بيا د هغه نور جزئيات وړاندې کوو.

د ۱۳۹۲ کال په لينډۍ مياشت کې د بانکي نظام ټوليزه شتمنۍ ۲۴۵.۶۶ مليارده افغانۍ ته رسيږي چې د تېرې دورې (۱۳۹۱ لينډۍ) په پرتله يې ۹.۷۵ سلنه زياتوالی موندلی دی او د مخکنۍ مياشتې (د ۱۳۹۲ لړم) په پرتله ۱.۰۹ سلنه زياته شوې ده.

د ۱۳۹۲ کال تر لينډۍ مياشتې پورې د بانکي نظام ټوليزه ناخالص پورونه ۴۶.۹۴ مليارده افغانۍ ته رسيږي چې د تېرې دورې( د ۱۳۹۱ لينډۍ) په پرتله ۱۱.۳۳ سلنه زياتوالی ښکاره کوي او د مخکنۍ مياشتې (د ۱۳۹۲ لړم) په پرتله ۱.۵۳ سلنه ټيټوالی ښکاره کوي.

د ۱۳۹۲ کال په لينډۍ مياشت کې د مشتريانو امانات ۲۰۷.۸۲ مليارده افغانۍ ته رسيږي چې د تېرې دورې ( د ۱۳۹۱ لينډۍ) په پرتله يې ۸.۱۰ سلنه زياتوالی درلودلی او په بانکونو کې د تمويل دا بنسټيزه منبع، د تېرې مياشتې راپدېخوا ۰.۲۵ سلنه زياتوالی ښکاره کوي.

د بانکونو مالي پانګې هم د تېرې دورې ( د ۱۳۹۱ لينډۍ) په پرتله ۶۹.۴۳ سلنه زياتوالی درلودلی چې عمده لامل يې د پانګې او ګټې تزريق او د بهرنيو بانکونو د نمايندګيو د مالي پانګې ټيکاو دی.

د ۱۳۹۲ کال تر پای پورې د افغانستان د بانکوالۍ نظام په ټوليزه توګه ۱.۴۳ مليارده افغانۍ ګټه کړې ده چې د تېرې دورې ( د ۱۳۹۱ لينډۍ) د ۱.۱۲ مليارده افغانۍ زيان په پرتله يې د پام وړ ښه والی موندلی دی. شتمنيو ته د بيرته ګرځيدو د نسبت په پايله کې د ۱۳۹۱ کال په لينډۍ کې د منفي ۰.۵۴ سلنې په پرتله په دې دوره ( د ۱۳۹۲ کال په لينډۍ) کې مثبت ۰.۶۱ سلنه ثبت شوی دی.

ټول بانکونه، د سياليت لپاره د افغانستان بانک د ټاکل شوي تر ټولو ټيټ حد سره مطابقت کې قرار لري خو د عمومي پرانيستي وضعيت له پلوه ټول بانکونه په عمومي توګه (پرته له اوو بانکونو چې د مرکزي بانک له ټاکل شوي تر ټولو ټيټ حد څخه د ټولو اسعارو لپاره ±۴۰ سلنه او انفرادي اسعارو لپاره ± ۲۰ سلنه او يو بانک د انفرادي اسعارو لپاره له ټاکل شوي حد څخه سرغړونه کړې ده) د افغانستان بانک د حد اقل ټاکل شوي حدودو په مطابقت کې واقع دي.

د ټولو بانکونو د مقرراتي پانګې نسبت د افغانستان بانک د ټاکل شوي تر ټولو ټيټ حد ( د خطر په اساس د عيار شوې شتمنۍ په سلو کې ۱۲ ) څخه لوړ دی خو پرته له

یو دولتي بانک څخه چې د منفي پانګې درلودونکی دی، البته دا موضوع د یاد بانک له ونډه لرونکو سره شریک شوې ده او د مالي چارو د څارنې آمریت د پانګې د بیا شریکولو او یا د هغه بانک لخوا د کومې بلې پریکړې په تمه دی. سربېره پر دې د بهرنیو بانکونو د دریو نمایندګیو لومړنی پانګه د افغانستان بانک له ټاکل شوي تر ټولو ټیټ حد څخه چې یو ملیارد افغانی ده، ټیټه ده، خو د ۳۷۸۳/۴۱۵۹ ګڼې مکتوب له مخې د ۲۰۱۴ میلادي کال د مارچ تر پای پورې ورته وخت ورکړل شوی دی څو خپله مالي پانګه له یو ملیارد افغانی سره عیار کړي. د هېواد بانکي نظام له ۱۶ جواز لرونکو بانکونو څخه جوړ دی چې له دې ډلې ۳ دولتي بانکونه، ۹ خصوصي بانکونه او ۴ د بهرنیو بانکونو نمایندګۍ دي چې په لاندې ډول په هېواد کې د نمایندګیو شمېر او نورې شته بانکي اسانتیاوې وړاندې کیږي:

۲جدول په هېواد کې د بانکي نظام اسانتیاوې ښکاره کوي

| اسانتیاوې | شمېر |
|---|---|
| له بشپړ خدماتو سره نمایندګۍ | ۲۰۱ |
| له محدودو خدماتو سره نمایندګۍ | ۱۸۹ |
| د صرافۍ اتومات ماشینونه (۲۲ ډوله) | ۱۱۳ |
| * نورې اسانتیاوې (۲۱،۲۴،۲۵ ډوله) | ۸۸ |
| د پلور ځایونه (۲۳ ډوله)** | ۲۶۶ |
| **مجموع** | **۸۵۷** |

۳ جدول د بانکي نظام د کارتونو شمېر ښکاره کوي

| | |
|---|---|
| د بدهی کارت (دبت کارت) | ۱۰۲،۳۴۹ |
| د اعتبار کارت (کریدت کارت) | ۸۶۰ |
| ای تی ایم کارت ( ATM ) | ۲۵،۱۳۰ |
| ویب سرفر کارت | ۱،۹۳۳ |
| **مجموع** | **۱۳۰،۲۷۲** |

پورته ذکر شوې اسانتیاوې د کابل ښار په ګډون د هېواد په ۳۴ ولایتونو کې د لاسرسی وړ دي، په داسې حال کې چې ATM کارت، دبت کارت او کریدت کارت د هېواد په ۶ ولایتونو کې د لاسرسی وړ دي.


د دې تر څنګ، تر اوسه پورې په ټولیزه توګه ۵۳۰ جوازونه د پولي خدماتو وړاندې کوونکو او ۱،۵۰۰ جوازونه صرافانو ته ورکړل شوي دي. د پولي خدماتو ۵۳۰ وړاندې کوونکو څخه د پولي خدماتو د ۳۴۲ وړاندې کوونکي په کابل او ۲۰۰ وړاندې کوونکي د هېواد په نورو ولایتونو کې په فعالیت بوخت دي.

سربېره پر دې، د پولي خدماتو د وړاندې کوونکو د مرکزي دفتر ۲۹۲ نمایندګۍ په کابل ښار او نورو ولایتونو کې په فعالیت لګیا دي. له ۱،۵۰۰ مجوزو صرافیو څخه،۳۴۷ صرافی په کابل او ۱،۰۴۷ صرافی د هېواد په نورو ولایتونو کې فعالیت کوي.

**د ۲۱ ډول اسانتیا:** هغه واحد یا دفتر چې د پور د لومړنیو پړاوونو د اجراء کولو واک لري، خو د پور د ورکولو واک نه لري.
**د ۲۴ ډول اسانتیا:** هغه واحد چې یوازې د نغدو پیسو د تادیې واک لري لکه: دولتي او غیر دولتي کارکوونکو ته د معاشونو ورکول او یا د بانک پیرودونکو ته داسې نور نغدي تادیات رانغاړي.
**د ۲۵ ډول اسانتیا:** دا واحد یوازې د مختلفو حکمي او حقیقي اشخاصو (معمولاً د سفارتونو، هوټلونو او داسې نورو ) په حسابونو کې د اماناتو په توګه له عامه خلکو څخه د نغدو پیسو د ترلاسه کولو په موخه د رسید د صادرولو واک لري.
**د ۲۳ ډول اسانتیا:** په پلورنځایونو کې خدماتي شبکې(یوازې لګښتونه وضع کوي خو د سپما واک نه لري).**

## ۶ ګراف د پولي خدماتو د وړاندې کوونکو او صرافانو د زیاتیدو بهیر ښکاره کوي

د پولي خدماتو د وړاندې کوونکو او صرافانو شمېره





### ټولیزه شتمنی:

په ۱۳۹۲ کال کې د بانکي نظام ټولیزه شتمنی ۲۴۵.۶۶ ملیارده افغانۍ (۴.۳۰ ملیارده ډالرو) ته رسیږي چې په تېره دوره ( د ۱۳۹۱ په لیندۍ) کې له ۲۲۳.۸۳ ملیارده افغانۍ(۴.۳۲ ملیارده ډالرو) څخه ۹.۷۵ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

د شتمنیو تر ټولو ډېره وده د بهرنیو بانکونو نمایندګیو درلوده چې د تیر کال ( د ۱۳۹۱ لیندۍ) په پرتله ۲۰.۹۶ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي، په داسې حال کې چې د خصوصي بانکونو د شتمنیو وده ۱۴.۴۶ سلنه وه او دولتي بانکونه د ۳.۰۸ سلنې ټیټوالي شاهد دی. د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو د سلنې له مخې، خصوصي بانکونه ۶۰.۶۶ سلنې ونډې په لرلو سره په لومړۍ درجه، دولتي بانکونه ۲۷.۲۷ سلنې ونډې سره په دویمه درجه او په پای کې د بهرنیو بانکونو نمایندګۍ د ۱۲.۰۶ سلنې ونډې په لرلو سره په دریمه درجه کې راځي.


## ۷ ګراف له ۱۳۸۶ هجري لمریز کال څخه د ۱۳۹۲ کال تر لیندۍ پورې د بانکي نظام د ټولیزې شتمنیو د ودې بهیر ښکاره کوي.

د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو، اماناتو او پانګې بهیر ( په ملیون ډالر)





## ۸ ګراف د ۱۳۸۶ څخه تر ۱۳۹۲ کال پورې د بانکي نظام په ټولیزه شتمنیو کې د بانکي ګروپونو ونډه ښکاره کوي.

دخو کلونو په ترڅ کې د بانکي نظام په ټولیزه شتمنیو کې د بانکي ګروپونو ونډه




## ۹ ګراف له ۱۳۹۰، ۱۳۹۱ څخه د ۱۳۹۲ تر لیندۍ پورې د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو د ودې څرنګوالی په وضاحت سره ښکاره کوي.




### ټولیزه پورونه

د بانکي نظام له ټولیزه شتمنیو څخه د بانکی نظام ناخالص پورونه، ۴۶.۹۴ ملیارده افغانۍ(۸۲۲ ملیونه ډالرو) ته رسیږي چې د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو ۱۹.۱۱ سلنه جوړوي او د تېرې دورې ( د ۱۳۹۱ لیندۍ) د ۴۲.۱۶ ملیارده افغانۍ (۷۶۸ ملیونه ډالرو) په پرتله چې د


ټولیزه شتمنیو ۱۸.۸۴ سلنه یې جوړوله، په اوسنی دوره (د ۱۳۹۲ په لیندۍ میاشت کې) یې ۱۱.۳۳ سلنه زیاتوالی موندلی دی.

له ټولیزه ناخالصه پورونو څخه په بانکي نظام کې په افغانیو د پورونو کچه ۱۱.۰۹ ملیارده افغانۍ (۱۹۴ ملیونه ډالرو) ته رسیږي چې د ټولیزه ناخالصه پورونو په سلو کې ۲۳.۶۴ او یا د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو ۴.۵۲ سلنه جوړوي چې دې شمېرې د تیرې دورې (د ۱۳۹۱ لیندۍ) په پرتله ۸.۹۵ سلنه زیاتوالی موندلی دی.

د بانکي نظام ډالري پورونه ۶۲۷ ملیونه ډالره (۳۵.۸۴ ملیارده افغانیو) ته رسیږي چې د ټولیزه پورونو ۷۶.۳۵ سلنه او د ټولیزه شتمنیو ۱۴.۵۹ سلنه جوړوي او د ۱۳۹۱ کال د لیندۍ د میاشتې په پرتله ۱۲.۱۰ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د پورو ورکولو په برخه کې، خصوصي بانکونه د ټولیزه پورونو ۸۸.۴۱ سلنه ونډې په لرلو سره مخکښه دي، دولتي بانکونه ۶.۳۵ سلنې ونډې سره په دویمه درجه او په پای کې د بهرنیو بانکونو نمایندګۍ د ۵.۲۳ سلنې ونډې په لرلو سره په دریمه درجه کې راځي.

د ۱۳۹۰ کال په اوږدو کې د بانکي نظام پورونو نوساني بهیر درلوده، خو د ۱۳۹۱ کال د لیندۍ په میاشت کې یې په فوق العاده توګه ۵.۵۷ سلنه زیاتوالی درلودلی دی چې بنسټیز لامل یې په یو شمېر بانکونو کې د پورونو د کچې زیاتوالی دی. د ۱۳۹۲ کال د لیندۍ میاشت کې د بانکوالی نظام د ټولیزه پورونو کچه ۱.۵۳ سلنه ټیټوالی درلودلی دی چې یو شمېر بانکونه په دې ټیټوالي کې ونډه لري.

۱۰ ګراف د بانکي نظام د پورونو بهیر ښکاره کوي




## ۴ جدول د بانکي نظام د ټولیزه پورونو ډله بندي ښکاره کوي:

| اقلام | د ۱۳۹۱ لیندۍ ۲۰۱۲ دسمبر | د ۱۳۹۲ وږی د ۲۰۱۳ سپتمبر | د ۱۳۹۲ لیندۍ د ۲۰۱۳ دسمبر | د ټولیزه ناخالصو پورونو سلنه ٪ | د هرو دریو میاشتو د ودې سلنه | د کلنی ودې سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| صعب الحصول پورونه[1] | ۲،۲۴۰ | ۲،۲۷۴ | ۲،۳۸۴ | ۵.۰۸٪ | ۴.۸۳٪ | ۶.۴۲٪ |
| معکوس ډله بندي شوي پورونه[2] | ۲،۵۹۴ | ۳،۰۰۸ | ۴،۲۳۸ | ۹.۰۳٪ | ۴۰.۸۹٪ | ۶۳.۳۷٪ |
| تر نظر لاندې کټګورۍ کې پورونه[3] | ۲،۰۳۶ | ۲،۴۰۶ | ۲،۴۱۲ | ۵.۱۳٪ | ۰.۲۵٪ | ۱۸.۴۶٪ |
| په خساره کټګورۍ کې پورونه[4] | ۲۴۹ | ۳۴ | ۴۶۰ | ۰.۹۸٪ | ۱،۲۵۲٪ | ۸۴.۷۳٪ |

۱ صعب الحصول پورونه: هغه پور یا نورې شتمنی چې د اصلي مبلغ یا ټکټانې د بیا ورکړې د سر رسید له موعد څخه یې ۹۱ ورځې یا زیاتې تیرې شوي وي.

۲ معکوس ډله بندي شوي پورونه: هغه پور یا نورې شتمنی چې د اصلي مبلغ یا ټکټانې د بیا ورکړې د سر رسید له موعد څخه یې ۶۱ الی ۹۰ ورځې (تحت المعیار) ۹۱ ــ ۱۸۰ ورځې (مشکوکې) تیرې شوي وي.

۳ تر نظر لاندې کټګورۍ کې پورونه: هغه پور یا نورې شتمنی چې د اصلي مبلغ یا ټکټانې د بیا ورکړې د سررسید له موعد څخه یې ۶۰-۳۱ ورځې تیرې شوي وي.

۴په خساره کټګورۍ کې پورونه: هغه پور یا نورې شتمنی چې د اصلي مبلغ یا ټکټانې د بیا ورکړې د سر رسید له موعد څخه یې ۱۸۱ یا زیاتې ورځې تیرې شوي وي.

دا چې د پورونو د ډله بندۍ راپور (هره ربع کې ) د بانکونو لخوا ورکول کیږي، له همدې امله مونږ د وروستۍ ربعې یعنې د ۱۳۹۲ کال د لیندۍ د میاشتې ارقام له مخکنۍ ربعې او د هغې له تیرې دورې (د ۱۳۹۱ لیندۍ) سره پرتله کوو.

د تیر کال په اوږدو کې په ټولیزه توګه د بانکي نظام د شتمنیو کیفیت له ستونزو سره مخ ؤ. صعب الحصول پورونه، معکوس ډله بندي شوي پورونه او تر مراقبت لاندې پورونه د تیرې دورې ( د ۱۳۹۱ لیندۍ) په پرتله د پام وړ زیاتوالی موندلی دی. تر نظر لاندې کټګورۍ کې پورونه دقیقې څیړنې او څارنې ته اړتیا لري ځکه هغه پورونه چې تر نظر لاندې کټګورۍ کې راغلي، زیات احتمال شته چې تر ټولو ټیټو صنفونو ته په اسانۍ واوړي او په پای کې په خساره کټګورۍ کې ډله بندي او په بانکي سکتور کې د زیان د لوړیدو لامل شي. تر نظر لاندې او معکوس ډله بندي شویو پورونو ډیری برخه دریو بانکونو پورې اړه لري. د مالي چارو د څارنې لوی آمریت د پلان د طرحې او پلي کیدو په موخه د بانکي نظام په کیفیت کې ښه والي لپاره له مالي مؤسسو سره په نږدې اړیکه کې دی او له دوی څخه یې غوښتلي دي څو د ستونزې د حل لپاره، ځانګړي پلانونه طرح او له هغه سره سم عمل وکړي.
کوچني او منځني پورونه د اوو بانکونو لخوا ورکړل شوي دي چې د کوچني پورونو کلنۍ وده ۴.۴۰ سلنه او د منځني پورونو ۱.۳۹ سلنه ده.

۵ جدول د کوچنیو او منځنیو پورونو د سلنې د ودې څرنګوالی ښکاره کوي.


| اقلام | د ۱۳۹۱ لیندۍ ۲۰۱۲ دسمبر | د ۱۳۹۲ وږی د ۲۰۱۳ سپتمبر | د ۱۳۹۲ لیندۍ د ۲۰۱۳ دسمبر | د ټولیزه ناخالصه پورونو سلنه ٪ | د هرو دریو میاشتو د ودې سلنه | د کلنۍ ودې سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| کوچني پورونه | ۲،۸۳۹ | ۲،۵۴۱ | ۲،۹۶۴ | ۶.۳۱٪ | ۱۶.۶۴٪ | ۴.۴۰٪ |
| منځني پورونه | ۳،۵۷۳ | ۳،۴۷۵ | ۳،۶۲۳ | ۷.۷۱٪ | ۴.۲۵٪ | ۱.۳۹٪ |

۶ جدول د ۱۳۹۲ کال په لیندۍ میاشتې کې د بانکي نظام د ناخالصه پورونو توپیر ښکاره کوي چې له مخې یې خصوصي بانکونه په لومړۍ درجه کې، دولتي بانکونه په دویمه درجه کې او د بهرنیو بانکونو نمایندګۍ په دریمه درجه کې راځي.

| بانک | ناخالص پورونه (ارقام په ملیون افغانۍ) |
|---|---|
| دولتي بانکونه | ۲،۸۹۱.۴۲ |
| خصوصي بانکونه | ۴۱،۵۰۱.۱۹ |
| د بهرنیو بانکونو نمایندګۍ | ۲،۴۵۸.۴۲ |
| **مجموع** | **۴۶،۹۴۰.۷۵** |

**د ټولیزه ناخالصو پورونو په وړاندې د صعب الحصول پورونو نسبت:**
په لاندې ګراف کې له ۱۳۸۶ کال څخه تر ۱۳۹۲ کال پورې د صعب الحصول پورونو او د حصول وړ پورونو نسبت وړاندې شوی دی چې په ۱۳۹۲ مالي کال کې د حصول وړ پورونه د صعب الحصول پورونو په پرتله ډېر توپیر ښکاره کوي.

۱۱ ګراف د ناخالصه صعب الحصول پورونو او د حصول وړ پورونو نسبت ښکاره کوي.




د بانکي نظام په جغرافیایي، سکتوري او اداري وېش کې بدلون نه دی راغلی، خو تمه کیږي چې د وخت په تیریدو سره د پورونو وېش متنوع شي. کابل د مخکې په څیر د بانکي

نظام د جغرافيايي وېش په سر کې قرار لري چې له کابل څخه وروسته هرات، بلخ، کندهار او ننګرهار راځي.

### ۷ جدول په ولايتونو کې ( له جغرافيايي پلوه) د پورونو وېش وړاندې کوي:

| شمېره | ولايتونه | د پور مبلغ (په مليون افغانۍ) | د ټوليزه پورونو د سلنې له مخې |
|---|---|---|---|
| ۱ | کابل | ۳۷,۲۶۵.۶۶ | ۷۹.۳۹٪ |
| ۲ | هرات | ۲,۶۷۴.۲۶ | ۵.۷۰٪ |
| ۳ | بلخ | ۲,۲۰۸.۲۸ | ۴.۷۰٪ |
| ۴ | کندهار | ۷۹۳.۲۸ | ۱.۶۹٪ |
| ۵ | ننګرهار | ۵۹۳.۷۷ | ۱.۲۶٪ |
| ۶ | بغلان | ۴۵۸.۹۲ | ۰.۹۸٪ |
| ۷ | پروان | ۳۷۹.۰۵ | ۰.۸۱٪ |
| ۸ | بدخشان | ۳۵۸.۸۱ | ۰.۷۶٪ |
| ۹ | کندز | ۳۴۳.۰۷ | ۰.۷۳٪ |
| ۱۰ | باميان | ۱۹۷.۱۸ | ۰.۴۲٪ |
| ۱۱ | جوزجان | ۱۸۲.۶۳ | ۰.۳۹٪ |
| ۱۲ | تخار | ۱۷۴.۱۵ | ۰.۳۷٪ |
| ۱۳ | سرپل | ۱۴۵.۳۷ | ۰.۳۱٪ |
| ۱۴ | فارياب | ۱۳۲.۷۰ | ۰.۲۸٪ |
| ۱۵ | سمنګان | ۹۸.۲۰ | ۰.۲۱٪ |
| ۱۶ | غزني | ۳۰.۸۹ | ۰.۰۷٪ |
| ۱۷ | نور ولايتونه | ۰.۰۸ | ۰.۰۰٪ |
| | مجموع | ۴۶,۰۳۶.۳۱ | ۹۸.۰۵٪ |
| | له افغانستان څخه بهر پورونه | | |
| ۱ | پاکستان | ۴۶۵.۰۹ | ۰.۹۹ ٪ |
| ۲ | بنګله ديش | ۴۳۹.۲۵ | ۰.۹۴ ٪ |
| | ټوليزه پورونه | ۴۶,۹۴۰.۶۵ | ۱۰۰.۰۰ ٪ |

### ۸ جدول د ۱۳۹۲ کال په لينډۍ مياشت کې د سکتوري پورونو وېش ښکاره کوي:

| سکتور | د سلنې له مخې ټوليزه پورونه |
|---|---|
| رهني او تعميراتي پورونه | ۲.۰۲٪ |
| **نور سوداګريز پورونه** | |
| *کانونه* | ۰.۰۷٪ |
| توليدات | ۹.۳۶٪ |
| سوداګري | ۲۹.۸۱٪ |
| مخابرات | ۳.۷۰٪ |
| خدمتونه | ۲۲.۱۱٪ |
| اسانتياوې | ۰.۰۵٪ |
| نور سوداګريز پورونه | ۱۰.۰۰٪ |
| کرنيز پورونه | ۲.۳۸٪ |
| مصرفي پورونه | ۰.۲۴٪ |
| انفرادي اشخاصو داستوګنې رهني پورونه | ۱۰.۸۴٪ |
| نور پورونه له پورته ياد شوي مواردو پرته | ۹.۴۱٪ |
| **مجموعه** | ۱۰۰٪ |


۹ جدول د ۱۳۹۲ کال په لړم مياشت کې په مرکز، ولايتونو او ناحيو کې د مؤسسو د شمېر له پلوه په هېواد کې د مسفا (افغانستان لپاره د کوچنيو پورونو د پانګونې د ملاتړ مرکز) د شريکانو عمومي جزئيات او د دې ترڅنګ د پيرودونکو، پوروړو، د پور د مبلغونو، د ښځينه پيرودونکو د سلنې، ښځينه پوروړو او داسې نور جزئيات وړاندې کوي:

| | |
|---|---|
| د کوچنيو پورونو مالي مؤسسې | ۵ |
| ولايتونه | ۱۴ |
| ناحيې | ۷۸ |
| پيرودونکي | ۱۵۷,۰۱۷ |
| مقروضين (پوروړي) | ۸۶,۷۱۰ |
| د ورکړل شوي پورونو شمېره | ۴۹۶,۷۱۲ |
| د ورکړل شوي پورونو مبلغ (په مليون ډالر) | ۶۲۱ |
| د پاتې پورونو شمېر | ۸۶,۷۱۰ |
| د پاتې ناخالصه پورونو مجموعه (په مليون ډالر) | ۹۰.۸۹ |
| د پيرودونکو پاتې سپما (په مليون ډالر) | ۱۵ |
| ښځينه پيرودونکو سلنه | ۲۲.۸٪ |
| ښځينه پوروړي | ۱۶,۲۵۹ |
| په کليو او بانډو کې پورونه ( په مليون ډالر) | ۲۱ |
| په ښارونو کې پورونه ( په مليون ډالر) | ۷۰ |
| **منبع يا مأخذ** | |

## ټولیزه امانات:


امانات د بانکي نظام د بدیهیو تر ټولو لویه برخه جوړوي او ۲۰۷.۸۲ ملیارده افغانۍ (۳.۶۳ ملیارده ډالرو) ته رسیږي چې د بانکي نظام د ټولیزه اماناتو ۹۵.۵۹ سلنه جوړوي او په تیره دوره ( د ۱۳۹۱ په لینډۍ) کې د ۱۹۲.۲۴ ملیارده افغانۍ (۳.۷۱ ملیارده ډالرو) په پرتله ۸.۱۰ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. هغه امانات چې په افغانیو نومول شوي یا د بانکي نظام په افغانۍ امانات ۶۶.۲۱ ملیارده افغانۍ ( ۱.۱۵ ملیارده ډالرو ) ته رسیږي چې د بانکي نظام د ټولیزه اماناتو ۳۱.۸۵ سلنه جوړوي او د مخکنۍ دورې (د ۱۳۹۱ لینډۍ) په پرتله ۱۶.۶۲ سلنه زیات شوی دی. هغه امانات چې په ډالرو نومول شوي یا د بانکي نظام ډالري امانات ۱۳۵.۴۵ ملیارده افغانۍ (۲.۳۷ ملیارده ډالرو) ته رسیږي چې د بانکي نظام د ټولیزه اماناتو ۶۵.۱۸ سلنه جوړوي او د تیرې دورې ( د ۱۳۹۱ لینډۍ) په پرتله یې ۵.۲۸ سلنه زیاتوالی کړی دی. خصوصي بانکونه د بانکي نظام په ټولیزه اماناتو کې تر ټولو ډېره یعنې ۶۲.۱۲ سلنه ونډه درلوده او د بانکي نظام په ټولیزه اماناتو کې د دولتي بانکونو او د بهرنیو بانکونو د نمایندګیو ونډې په ترتیب سره ۲۶.۹۲ سلنه او ۱۰.۹۷ سلنه جوړوي.

۱۲ ګراف د بانکي نظام ټولیزه پورونه او امانات ښکاره کوي.




د بانکي نظام ټولیزه امانات د ۱۳۹۰ او ۱۳۹۱ کلونو په اوږدو کې نوساني بهیر درلوده. خو د روان کال ( د ۱۳۹۲ لینډۍ) په ترڅ کې د بانکي نظام اماناتو ۰.۲۵ سلنه زیاتوالی موندلی دی.

۱۳ ګراف د بانکي نظام د ټولیزه اماناتو د ودې بهیر په وضاحت سره وړاندې کوي.




۱۰ جدول د ۱۳۹۲ کال د لینډۍ میاشتې په پای کې د جاري، میعادي او د سپما حسابونه ښکاره کوي.

| د ۱۳۹۲ کال د لینډۍ د میاشتې په پای کې د ټولیزه اماناتو ترکیب (په ملیون افغانۍ) | |
|---|---|
| جاري | ۱۵۳،۸۵۳ |
| میعادي | ۹،۴۴۶ |
| سپما | ۴۴،۵۲۳ |
| **مجموعه** | **۲۰۷،۸۲۲** |


## ټولیزه پانګه

بانکي نظام کافي پانګه لري، له یو دولتي بانک پرته چې د پانګې له کموالي سره مخ دی، د بانکي نظام د نورو بانکونو پانګه په ښه وضعیت کې قرار لري چې د ۱۳۹۲ کال په لینډۍ میاشت کې ۲۸.۲۵ ملیارده افغانۍ ( ۴۹۵ ملیونه ډالرو) ته رسیږي چې د تیرې دورې (د ۱۳۹۱ لینډۍ) د ۱۶.۶۷ ملیارده افغانۍ (۳۲۲ ملیونه ډالرو) په پرتله ۶۹.۴۳ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي چې عمده لامل یې د ګټې، د پانګې تزریق او د بهرنیو بانکونو د نمایندګیو د مالي پانګې زیاتوالی دی چې مخکې د نورو بدیهیو په برخه کې ښکاره کیده او د افغانستان بانک د عالي شورا د ۱۳۹۱/۱۲/۲۹ نیټې تصویب او د ۹۲/۰۲ ګڼې متحدالمال په بنسټ د بهرنیو بانکونو له نمایندګیو څخه غوښتل شوي څو د نورو بانکونو په څیر په جلا جلا توګه د خپلې پانګې راپور ورکړي.

د ۱۳۹۱ کال د لیندۍ میاشتې د مالي راپورونو له مخې، د بهرنیو بانکونو د دریو نمایندګیو لومړنی پانګه د افغانستان بانک له ټاکل شوي تر ټولو ټیټ حد څخه چې یو ملیارد افغانۍ کیږي، ښکته ده، خو د ۳۷۸۳/۴۱۵۹ ګڼې د۱۳۹۲/۱۰/۱۷ نیټې مکتوب له مخې د بهرنیو بانکونو نمایندګیو ته د ۲۰۱۴ میلادي کال د مارچ تر پای پورې وخت ورکړل شوی دی څو خپله مالي پانګه له یو ملیارد افغانۍ سره عیار کړي.

د ټولو بانکونو د مقرراتي پانګې نسبت د افغانستان بانک د ټاکل شوي تر ټولو ټیټ حد ( د خطر په اساس د عیار شوې شتمنۍ په سلو کې ۱۲ ) څخه لوړ ده، خو پرته له یو دولتي بانک څخه چې د مقرراتي پانګې نسبت یې د افغانستان بانک د ټاکل شوي تر ټولو ټیټ حد څخه ښکته دی. د یاد بانک مالي پانګه منفي ده، خو دا موضوع د بانک له ونډه لرونکو سره شریکه شوې ده. د مالي چارو د څارنې آمریت د پانګې د بیا ځېرلو او یا د هغه بانک لخوا د کومې بلې پریکړې په تمه دی. د بانکوالی نظام د مالي پانګې بهیر په لاندې ګراف کې وړاندې کیږي.

۱۴ ګراف د بانکي نظام ټولیزه پانګه ښکاره کوي.




**ګټه**

بانکي نظام د ۱۳۹۲ کال په لیندۍ میاشت کې ۷۸۷ ملیونه افغانۍ ګټه کړې ده. د ۱۶ بانکونو له ډلې څخه دوو بانکونو په ټولیزه توګه ۵۵۲ ملیونه افغانۍ زیان کړی دی چې په تیره میاشت کې ۴۰۰ ملیونه افغانۍ زیان د دریو بانکونو لخوا شوی ؤ. په روانه میاشت کې د ۷۸۷ ملیونه افغانۍ ګټې بنسټیز لامل په غیر ټکټانه عوایدو کې د پام وړ ډېروالی او د اسعارو د نوي ارزښت ټاکنې له کبله د ۶۰۶ ملیونه افغانۍ او ۳۲۳ ملیونه افغانۍ په اندازه ګټه دی. نور عوامل چې په دې زیاتوالي کې ونډه لري د ټکټانې خالصه ګټه او اعتباري تأمینات ( د پورونو د خسارې جبران) دي چې هر یو یې په ترتیب سره ۱۸۲ ملیون افغانۍ او ۶۵ ملیون افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي. په ورته وخت کې په غیر ټکټانې لګښتونو کې او د مالیاتو په لګښتونو کې هر یو په ترتیب سره ۲۵ ملیونه افغانۍ او ۳۲۳ ملیونه افغانۍ زیاتوالی راغلی دی. دیادونې وړ ده چې د ۷۸۷ ملیونه افغانۍ ګټې ستره برخه په یو دولتي بانک پورې اړه لري.

منځنی ارزښت یا (Spread) یا د بانکي نظام د پورونو د ټکټانې او د نوي اماناتو د ټکټانې ترمنځ توپیر د مخکنۍ دورې ( د ۱۳۹۲ لړم) په پرتله ۰.۳۷ سلنه راټیټ شوی دی چې اوس مهال ۹.۹۳ سلنه دی. د څلورو بانکونو منځنی ارزښت (Spread) د بانکي نظام له منځني ارزښت څخه ټیټ قرار لري. د ۱۳۹۲ کال په لیندۍ میاشت کې د بانکي نظام د اغیزناکی(Efficiency) منځنی حد ۲.۰۱ دی چې د تیرې میاشتې ( د ۱۳۹۲ لړم) د ۱.۵۴ سلنې په پرتله یې ۰.۴۷ سلنه زیاتوالی موندلی دی. اته بانکونه په بانکي نظام کې د مثمریت له منځني حد څخه ټیټ واقع دي.

بانکي نظام د ۱۳۹۲ کال د لیندۍ د میاشتې تر پای پورې په ټولیزه توګه ۱.۴۳ ملیارده افغانۍ ( ۲۵.۱۳ ملیونه ډالره) ګټه


کړې ده چې د تېرې ورته دورې (د ۱۳۹۱ لینډۍ) د ۱.۱۲ ملیارده افغانۍ زیان په پرتله د پام وړ زیاتوالی لري.

شتمنیو ته د بیا ګرځېدنې (برګشت) نسبت د ۱۳۹۱ په لینډۍ میاشت کې د ۰.۵۴ سلنې په پرتله په اوسنۍ دوره (د ۱۳۹۲ په لینډۍ) کې ۰.۶۱ سلنې ته راګرځېدلی دی.

د بانکي نظام د ګټې عمده لاملونه، د اعتباري تأميناتو په لګښتونو کې د پام وړ ټيټوالی، د معاشونو په لګښتونو کې ټيټوالی او د خالصه ټکټانه عوايدو او غير ټکټانه عوايدو زياتوالی او د اسعارو د نوي ارزښت ټاکنې عوايد دي. په ورته وخت کې غير ټکټانه لګښتونه او د مالياتو لګښتونه زيات شوي دي. په ټوليزه توګه دريو بانکونو ۵۸۷ مليونه افغانۍ زيان کړی دی چې په تيره دوره (د ۱۳۹۱ په لينډۍ) کې ټوليزه زيان دريو بانکونو ته نسبت ورکول کيده چې ۳.۰۳ ملیارده افغانۍ ته رسيده.

باید یادونه وکړو چې د اساسي عايد (Core Income) پر بنسټ يو بانک په زيان کې دی.

۱۵ ګراف د دولتي بانکونو، خصوصي بانکونو او د بهرنیو بانکونو د نمایندګیو په تفکیک د بانکي نظام ګټه او تاوان وړاندې کوي.




## سیالیت

د ټولو بانکونو د سیالیت نسبت، د افغانستان بانک د سیالیت لپاره د ټاکل شوي حد اقل ( د سیالیت پراخه نسبت ۱۵ سلنه او د سیالیت چټک نسبت ۲۰ سلنه) څخه لوړ دی. د ۱۳۹۲ د لینډۍ د میاشتې له مخې د بانکي نظام د چټک سیالیت نسبت د منځني ارزښت له پلوه ۶۷.۹۳ سلنه دی چې د تیرې دورې ( د ۱۳۹۱ لینډۍ) د ۷۲.۱۳ سلنې په پرتله یې په اوسنۍ دوره (د ۱۳۹۲ لینډۍ) کې ۴.۲۰ سلنه ټیټوالی موندلی دی.

د ۱۳۹۲ کال د لینډۍ د میاشتې د شمېرو په بنسټ، په سترو اماناتو (هغه امانات چې له ۵ ملیونو افغانۍ زیات وي) باندې د بانکي نظام د اماناتو د ډېر تمرکز په هکله اندیښنې شتون لري. دغه ستر امانات د ټولیزه اماناتو شاوخوا ۵۵.۲۸ سلنه جوړوي او له ۵۴۱۶ حسابونو څخه جوړه ده چې د نقدینه ګۍ له پلوه ډېره مهمه ګڼل کیږي او د تښتیدونکی بدیهیو (مفر بدیهیو) له اقلامو څخه شمېرل کیږي. سر بېره پردې د سترو اماناتو منځنی حد ۵۳ ملیونه افغانۍ دی چې د تېرې ربعې په پرتله یې ټیټوالی موندلی دی.

## د اسعارو پرانیستی وضعیت

بانکونه په ټولیزه توګه د افغانستان بانک د اسعارو عمومي پرانیستي وضعیت (±۴۰ سلنه) او د اسعارو انفرادي پرانیستي وضعیت (±۲۰ سلنې) لپاره د حد اقل ټاکل شوي حدودو په مطابقت کې واقع دي، پرته له اوو بانکونو چې د عمومي او انفرادي پرانیستي وضعیت (ډالرو) لپاره او یو بانک انفرادي پرانیستي وضعیت (ډالرو) لپاره له ټاکلي حد څخه سرغړونه کړې ده.

په ۱۱ جدول کې د ۱۳۹۲ کال لپاره د کارکوونکو، پوروړو، امانت اېښودونکو او نورو مشتريانو شمېر وړاندې شوی دی چې له مخې يې په بانکي نظام کې د امانت اېښودونکو شمېر ۲،۶۹۵،۱۳۹ تنو ته رسيدلی دی:

| ځانګړتياوې | شمېر |
|---|---|
| کورني کارکوونکي | ۸،۵۹۵ |
| بهرني کارکوونکي | ۱۱۷ |
| پوروړي | ۶۴،۵۴۹ |
| امانات ايښودونکي | ۲،۶۹۵،۱۳۹ |
| * نور پيرودونکي | ۲،۴۸۵ |

د افغانستان بانک د مالي نظام د لا ټينګښت په موخه، بيلا بيلې ادارې چې د مالي نظام په لا پياوړتيا، ټينګښت، ټيکاو او اغيزمنتوب کې مهم رول لري، جوړې کړي دي چې په دې برخه کې يې ښې لاسته راوړنې درلودلې دي. د افغان اماناتو د بيمې اداره ( ADIC) او د عامه اعتباراتو د ثبت اداره (PCR) دوه ملي ادارې دي چې د هېواد د مالي نظام د بنسټ لا ټينګښت لپاره هڅه کوي.

دلته د پورته ذکر شويو دواړو ادارو فعاليتونه په لنډه توګه وړاندې کيږي.

### د افغان اماناتو د بيمې اداره(ADIC)

د افغان اماناتو د بيمې ادارې د جوړيدو موخه چې د افغانستان بانک په اډانه کې فعاليت کوي، د افغانستان بانک په جواز لرونکو سوداګريزو بانکونو کې د خلکو د اماناتو خونديتوب او ملاتړ، د بانکي سکتور د ثبات ساتل او په بانکي نظام باندې د خلکو د اعتماد پيدا کول دي چې د دې موخې په عملي کېدو سره به په هېواد کې ډاډمنه فضا او په مالي سيستم باندې د خلکو اعتماد رامنځ ته شي. څکه چې د يو بانک د ديوالي کېدو پر مهال، په هېواد کې د مرکزي بانک په توګه د افغانستان بانک لخوا د خلکو د اماناتو د بيا ورکړې پروسه له ننګونې ډکه ده چې په هغه وخت کې ټول کوچني امانت اېښودونکي زيانمن کيږي او په ټوليزه توګه ښايي په ديوالي شوي بانک کې د اماناتو اېښودونکو امانات سمدستي ورک شي. له همدې امله د افغان اماناتو د بيمې اداره د يو بانک د ديوالي کيدو پر مهال د خلکو د اماناتو د بيا ورکولو په پروسه کې د هېواد په کچه مهم او بنسټيز رول لوبوي او د خلکو امانات به په ټاکلي وخت په ټاکلو شرايطو سره ورکوي. د افغانستان بانک په جوړښت کې د دې ادارې جوړول د پورته هدفونو د عملي کولو په موخه، ځانګړې ارزښت لري.

### د سوداګريزو بانکونو له اړونده حسابونو څخه د وضع شوې حق البيمې(Premium)کچه:

د افغان اماناتو د بيمې اداره (ADIC) خپله حق البيمه (Premium) د ۱۳۹۲ مالي کال په ترځ کې د ټاکل شويو کټګوريو او سلنو په بنسټ د ۱۶ سوداګريزو بانکونو له حسابونو څخه، په ټوليزه توګه درې سوه او پنځه اتيا مليونه او اوه اتيا زره او دوه سوه او اتيا ( ۳۸۵،۰۸۷،۲۸۰ )افغانۍ په لاندې ډول وضع کړې دي:

۱۲ جدول د ۱۳۹۱ له مرغومې څخه د ۱۳۹۲ تر مرغومې پورې د بانکونو حق البيمه ښکاره کوي.

| په ۱۳۹۲ مالي کال کې په ربعوار ډول د سوداګريزو بانکونو له حسابونو څخه وضع شوې حق البيمه(Premium) ( د ۱۳۹۱ له مرغومې څخه د ۱۳۹۲ تر مرغومې پورې) | | |
|---|---|---|
| | | |
| څلورمه ربع | ۹۲،۰۵۸،۱۷۰ | د ۲۰۱۳ جنوری، فبروری او مارچ |
| لومړۍ ربع | ۹۷،۲۰۶،۳۵۴ | د ۲۰۱۳ اپريل، می او جون |
| دويمه ربع | ۹۸،۵۷۵،۶۱۹ | د ۲۰۱۳ جولای، اګست او سپتمبر |
| دريمه ربع | ۹۷،۲۴۷،۱۳۷ | د ۲۰۱۳ اکتوبر، نومبر او دسمبر |
| | | |
| مجموعه | افغانۍ ۳۸۵،۰۸۷،۲۸۰ | |

* نور پيرودونکي هغه پيرودونکي دي چې بانکي تضمينونه، ليتراف کريډټ او نور تضمينونه او ژمنې يې درلودلي وي.

**له سوداګریزو بانکونو څخه د وضع شوي حق البیمي (Premium) څرنګوالی:**

سوداګریز بانکونه په ټولیزه توګه د افغانستان بانک د مالي چارو د څارنې د لوی آمریت لخوا څارل او څېړل کیږي چې دا بانکونه د خپلو کړنو د کچې له مخې په ټاکلي کټګوریو (CAMEL Rating) ډله بندي شوي چې د همدې ډله بندۍ په بنسټ، د هر بانک د کړنو ګراف تشخیص او تثبیت کیږي.

۱۳ جدول د افغان اماناتو د بیمې په اداره کې د سوداګریزو بانکونو غړیتوب ښکاره کوي

| شمېره | د بانک نوم | |
|---|---|---|
| ۱ | عزیزی بانک | Azizi Bank |
| ۲ | پنجاب نشنل بانک | Punjab National Bank |
| ۳ | آرین بانک | Arian Bank |
| ۴ | د افغانستان نړیوال بانک | Afghanistan International Bank |
| ۵ | فرست مایکرو فایننس بانک | The First Micro Finance Bank |
| ۶ | نشنل بانک پاکستان | National Bank of Pakistan |
| ۷ | الفلاح بانک | Bank Alfalah Limited |
| ۸ | نوی کابل بانک | New Kabul Bank |
| ۹ | حبیب بانک | Habib Bank Limited |
| ۱۰ | افغان یونایتید بانک | Afghan United Bank |
| ۱۱ | افغان ملي بانک | Bank- e-Millie Afghan |
| ۱۲ | پښتنی بانک | Pashtany Bank |
| ۱۳ | د افغانستان سوداګریز بانک | Afghanistan Commercial Bank |
| ۱۴ | میوند بانک | Maiwand Bank |
| ۱۵ | غضنفر بانک | Ghazanfar Bank |
| ۱۶ | باختر بانک | Bakhter Bank |

د حق البیمي (Premium) د وضع کولو په موخه، د افغان اماناتو د بیمي اداره د سوداګریزو بانکونو د بنسټیزو اماناتو د راپور یو کاپي چې د افغانستان بانک د مالي چارو د څارنې د آمریت لخوا بررسي کیږي، هر کال د څلورو ربعو په ترخ کې ( په ربعواره توګه) ترلاسه او د هغه په بنسټ د خپلې حق البیمي (Premium) راپور د سوداګریزو بانکونو له حسابونو څخه وضع کوي.

د یادونې وړ ده چې مخکې له دې بانکونو څخه د حق البیمي د وضع کولو سلنه د هر بانک د خطر او ریسک د درجې له مخې په ټاکلي کټګوریو سره ټاکل شوې وه چې د هغه په بنسټ د افغان اماناتو د بیمي اداري خپله حق البیمه له سوداګریزو بانکونو څخه راټوله کړې ده، خو دې پروسې د افغان اماناتو د بیمي اداري د وړاندیزونو او د افغانستان بانک د عامل پلاوي د تصویبونو په بنسټ څو ځله بدلون کړی دی.

د افغان اماناتو د بیمي اداري د رقابتي انګیزې د رامنځ ته کولو او د بانکونو ترمنځ د خطرونو د راکمولو په موخه یو وړاندیز ترتیب او هغه یې د کتنې او نظر څرګندونې په موخه د افغانستان بانک مشر تابه پلاوي ته راجع کړی چې د افغانستان بانک د عامل پلاوي د (۲۱۰) ګڼې تصویب په بنسټ له سوداګریزو بانکونو څخه د حق البیمي د وضع کولو سلنه یې د ۱۴ جدول مطابق ټاکلې او تصویب کړې ده:

| CAMEL Rating (د کیمل ریټینګ درجه) | د حق البیمي د وضع کولو لپاره سلنه (Premium) |
|---|---|
| ۱ | ۰.۱۳٪ |
| ۲ | ۰.۱۵٪ |
| ۳ | ۰.۱۸٪ |
| ۴ | ۰.۲۳٪ |
| ۵ | ۰.۲۵٪ |

**د افغان اماناتو د بیمي اداري د پیسو د پانګه اچونې پروسه:**

د افغان اماناتو د بیمي اداري سرمایوي او عایداتي منابع درې مرجع یعنې، د افغانستان بانک او مالیې وزارت څخه ترلاسه شوي لومړنۍ او دوراني پانګه، له سوداګریزو بانکونو څخه ترلاسه شوی حق العضویت او له سوداګریزو بانکونو څخه په ربعوار ډول د کلنۍ حق البیمي (Premium) راټولول، جوړوي


د افغان اماناتو د بیمې اداره په یو خوندي ځای کې چې له خطر پاک وي، د دې ادارې د پیسو د پانګونې په موخه د وړاندیزونو په وړاندې کولو سره، د دې ادارې پیسې د افغانستان بانک په بیه لرونکو پاڼو کې په پانګه اچوي. د افغانستان بانک د عالي شورا د تصویب له مخې د افغان اماناتو د بیمې ادارې پیسو د افغانستان بانک د بیه لرونکو پاڼو د مقررې په دویمه ماده کې د (Applicability) عنوان په زیاتیدو سره د افغانستان بانک په بیه لرونکو پاڼو کې د ګډون اجازه ترلاسه کړې چې د هغه پر بنسټ د بیه لرونکو اسنادو په پروسه کې د ونډې او ګډون واک دې ادارې ته سپارل شوی چې له هغه وخته تر اوسه پورې د دې ادارې ټولې پیسې د څلور کسیزې کمیټې تر نظر لاندې د افغانستان بانک په بیه لرونکو پاڼو کې په پانګه اچول کیږي.

۱۵ جدول د بیه لرونکو پاڼو په لیلام کې د افغان اماناتو د بیمې ادارې ګډون ښکاره کوي:

| د ۱۳۹۲ کال په اوږدو کې د افغانستان بانک د بیه لرونکو پاڼو په لیلام (Bidding) کې د ګډون له پلوه د افغان اماناتو د بیمې ادارې پیسې او عاید | |
|---|---|
| د افغان اماناتو د بیمې د پیسو کچه چې په ۱۳۹۲ کال کې د افغانستان بانک په بیه لرونکو پاڼو کې د لیلام (Bidding) له لارې په پانګه اچول شوي دي. | په ۱۳۹۲ کال کې د مالیاتو له وضع کولو مخکې په بیه لرونکو پاڼو کې د پانګونې له درکه د افغان اماناتو د بیمې د پیسو عواید |
| ۲،۴۵۰،۲۴۷،۹۸۳ افغانی | ۱۲۲،۰۵۳،۹۶۷افغانی |

د افغان اماناتو د بیمې ادارې د ۱۳۹۲ مالي کال په اوږدو کې په ټولیزه توګه خپلې پیسې د (۲،۴۵۰،۲۴۷،۹۸۳) افغانی په کچه له (۱۲۲،۰۵۳،۹۶۷ ) افغانۍ ګټې سره په مختلفو مبلغونو، مختلفو سلنو او مختلفو مودو کې د افغانستان بانک د بیه لرونکو پاڼو (Capital Note ) د لیلام (Bidding) په پروسه کې د ګډون له لارې په پانګه اچولې دي.

۱۶ ګراف د ۱۳۸۸ـ۱۳۹۲ کلونو په اوږدو کې د افغان اماناتو د بیمې ادارې د حق البیمې راټولول ښکاره کوي.




د افغانستان بانک له سوداګریزو بانکونو څخه د حق البیمې (Premium) د راټولیدو پروسه د ۱۳۸۸ کال له وروستی ربعې څخه پیل شوی چې د ۱۳۹۲ کال له پیل څخه تر دریمې ربعې پورې راټول شوي مبلغونه شاوخوا (۱،۳۲۹،۳۰۰،۸۷۱) یو ملیارد او دري سوه او نهه ویشت ملیونه او دري سوه زر او اته سوه یو اویا افغانۍ کیږي. او دا مبلغونه د ذکر شویو بانکونو له حسابونو څخه د افغان اماناتو د بیمې ادارې حساب ته لیږدول شوي دي.

## د عامه اعتباراتو د ثبت اداره (PCR)

د عامه اعتباراتو د ثبت اداره د ۲۰۰۸ میلادي کال په سپتمبر میاشت (د ۱۳۸۷ په وږي) کې له نړیوال بانک سره د مالي ټینګښت د پروژې د تړون له مخې؛ د افغانستان بانک په اړانه کې جوړه شوې ده. د دې ادارې فعالیتونه د منقولو اموالو د رهني حقوقو ثبت او د عامه اعتباراتو د ثبت سیستمونه رانغاړي چې د نړیوال بانک لخوا تمویلیږي. د هغو ستونزو له امله چې د تړون د لاسلیک او تخنیکي مواردوپه برخه کې وجود درلود، یاد شوي سیستمونه د ۲۰۱۳ کال د جنورۍ تر میاشتې

(د ۱۳۹۲ کال د وروي تر ۲۵ نېټې) پورې غیر فعال ؤ چې د تمویلوونکو ادارو د اندېښنو لامل شوی ؤ، خو د ۲۰۱۳ میلادي کال په ترڅ کې چې له ۱۳۹۲ هجري لمريز مالي کال سره سمون خوري، په دې برخه کې د پام وړ پرمختګونه شوي دي او په پایله کې د منقولو اموالو د رهني حقوقو د ثبت سیستم فعال او ګټې اخیستنې ته وړاندې شوی چې د هغه لومړی پړاو د ۲۰۱۳ کال د دسمبر په ۱۶ نېټه پرانیستل شوی. د یادو پروژو د ارزښت او د افغانستان د بانکي سکتور د اړتیاوو په پام کې نیولو سره د ذکر شویو سیستمونو فعالول نه یوازې د افغانستان بانک لپاره د پام وړ پرمختګ ګڼل کېږي بلکې د افغانستان بانکي سکتور لپاره هم له ځانګړي ارزښت څخه برخمن دی.

د عامه اعتباراتو د ثبت ادارې د لومړي ځل لپاره د عوایدو په راټولولو پیل کړی او تمه کېږي چې د ۱۳۹۳ مالي کال په ترڅ کې د دې ادارې عملیاتي لګښتونه د هغه له عوایدو څخه ترلاسه شي.

دا اداره د لاندې قوانینو او مقررو په رڼا کې فعالیت کوي:

۱. د افغانستان د بانکدارۍ قانون

۲. د افغانستان بانک قانون

۳. په بانکي معاملو کې د منقولو اموالو د رهن قانون

۴. د اعتباراتو د راپور ورکونې مقرره

۵. د منقولو اموالو د رهني حقوقو د خبرتیاوو د ثبت مقرره

کوچنی او منځنی سوداګري د افغانستان د اقتصادي ودې او پرمختیا لپاره بنسټیز مُحرک ګڼل کېږي چې د منقولو اموالو رهني معاملې کولای شو مالي وجوه ته د لاسرسۍ لپاره بنسټیزه وسیله وګڼو. په همدې ډول د منقولو اموالو د تضمینونو د رهني حقوقو د ثبت دفتر (په بانکي معاملو کې د منقولو اموالو د رهن قانون) د ۴۸ مادې د حکم له مخې" او "د منقولو اموالو د رهني خبرتیاوو د ثبت مقرره" د رهني خبرتیاوو د ثبت په موخه جوړه شوې ده.

د دې سیستم موخه، د منقولو اموالو د رهني حقوقو ثبت؛ د رهني حقوقو د تقدم ثابتول او د دریم شخص د خبرتیا په موخه د رهني خبرتیاوو خپرول دي. التزامونه د رسمي طی مراحلو له لارې د رهني حقوقو د ثبت په موخه د منقولو اموالو د رهن د مقررې په پام کې نیولو سره لږ تر لږه تنظیم شوي او هیڅ ډول اداري طی مراحلو او د ثبت دفتر لخوا منظورۍ ته اړتیا نه لري.

هغه لاسته راوړنې چې په دې برخه کې شوي دي ورڅخه لنډه یادونه کوو:

**د منقولو اموالو لپاره د رهني حقوقو د ثبت سیستم جوړول**

د منقولو اموالو د رهني حقوقو د ثبت سیستم د لومړي ځل لپاره د هېواد په بانکي سکتور کې جوړ او په عملي توګه د سوداګریزو بانکونو او د افغانستان بانک د مالي چارو د لوی آمریت د ګټې اخیستنې وړ وګرځیده.

د رهني حقوقو ۱۷۵۰ خبرتیاوې ( لومړنی، تمدیدي، اصلاحي او فسخ شوې خبرتیاوې) په دې سیستم کې ثبت شوي چې په ټولیزه توګه ۲۸.۶ ملیارده افغانۍ ته رسیږي.

**د سوداګریزو بانکونو او کوچنیو مالي مؤسسو کارکوونکو لپاره د روزنیزو پروګرامونو جوړول**

– د سوداګریزو بانکونو ټولو کارکوونکو لپاره د منقولو اموالو د رهني حقوقو د ثبت سیستم عملي روزنیز پروګرام

– د کوچنیو مالي مؤسسو کارکوونکو لپاره د منقولو اموالو د رهني حقوقو د ثبت سیستم عملي روزنیز پروګرام، د سوداګریزو بانکونو کارکوونکو لپاره د منقولو اموالو د رهني حقوقو د ثبت سیستم عملي روزنیز پروګرام او د افغانستان بانک د مالي چارو د څارنې د آمریت کارکوونکو لپاره د څارنیزو یوزرونو جوړول

- د سوداګریزو بانکونو، کابل ښاروالۍ، د افغانستان بانک، کوچنیو مالي مؤسسو او اړوندو ادارو کارکوونکو لپاره د غیر منقولو اموالو د رهني حقوقو د ثبت سیستم د جوړیدو په موخه روزنیز ورکشاپ

- د مالي چارو د څارنې ټیم لیډرانو، د سوداګریزو بانکونو حقوقي سلاکارانو او د افغانستان بانک د حقوقي مشاوریت کارکوونکو لپاره د رهني حقوقو د ثبت د سیستم د قانوني اړانې روزنیز پروګرام

**د منقولو اموالو د رهني حقوقو د ثبت د سیستم، قانون او مقررې له اغیزناکه تطبیق څخه د څارنې د یوزر او میکانیزم جوړول**

د افغانستان بانک د مالي چارو د څارنې یو شمېر کارکوونکو لپاره روزنیز پروګرامونه او څارنیز یوزرونه جوړ شو. همدا ډول د مالي چارو د څارنې له آمریت څخه وغوښتل شو څو د ساحې د دننه څارنې په ترڅ کې د رهني خبرتیاوو د ثبت سیستم، قانون او مقررې له اغیزناکه تطبیق څخه څارنه وکړي، اړوندو سرغړونو ته په څارنیز راپور کې انعکاس ورکړي او دا موضوع ټولو سوداګریزو بانکونو ته هم ابلاغ شوه.

**د منقولو اموالو د رهني حقوقو د ثبت په اړه د عامه پوهاوۍ پروګرامونه**

د روزنیزو پروګرامونو جوړول، د عامه اعتباراتو د ثبت د ویب پاڼې جوړول (www.pcr.gov.af)، د منقولو اموالو د رهن د قانون د رسمي جریدې وېشل، په ورځپاڼو کې ګډون، د فایل فولډر چاپ او وېشل، د بروشور چاپ او خپرول او د یادداشت د کتابچو وېشل د عامه پوهاوۍ په پروګرام کې د تبلیغاتو په موخه عملي شو.

**د منقولو اموالو د رهني حقوقو د ثبت د سیستم تطبیق لپاره د منځني اسیا د هېوادونو په منځ کې د لومړي مقام ترلاسه کول**

نړیواله مالي اداره (IFC) د ۲۰۱۳ میلادي کال د جون په ۲۵ نېټه داسې اعلان وکړ " افغانستان په منځني اسیا او شمالي افریقا کې لومړنی هېواد دی چې د منقولو اموالو د رهني حقوقو د ثبت په موخه یې قانوني مساعده زمینه او د نړیوالو پرمختللو معیارونو مطابق یې الکترونیکي سیستم رامنځ ته کړی دی. کومه قانوني او تخنیکي مساعده زمینه چې په افغانستان کې رامنځ ته شوې ده، کوچنیو او منځنیو سوداګریو د مالي پیسو (پور) د لاسرسۍ په کچه کې زیاتوالی راوستی دی او انفرادي اشخاص، کوچنۍ او منځنۍ سوداګریزې مؤسسې کولای شي خپل منقول اموال پور ورکوونکو مؤسسو ته د تضمین په توګه وړاندې کړي او خپل د پام وړ پورونو ته لاسرسی پیدا کړي. د رهني حقوقو د ثبت د اغیزناکه سیستم جوړول به پور ورکوونکي مالي مؤسسې هم برلاسي کړي تر څو خپله د پورونو ټوکرۍ متنوع کړي او په دې برخه کې له سالمې سیالۍ څخه ګټه ترلاسه کړي".د عامه اعتباراتو د ثبت دفتر موخه، د اعتباري معلوماتو د یو خوندي سیستم جوړول دي چې مالي مؤسسې، سوداګریز بانکونه، مخابراتي شرکتونه او اړوندې ادارې ترې ګټه پورته کوي او دا مؤسسې د دې سیستم له اسانتیاوو څخه په ګټې اخیستنې سره کولای شي د پور د اخیستو په موخه د مشتریانو د مراجعې په وخت کې د شخص (مشتري) د اعتباري سوابقو په هکله معلومات ترلاسه کړي. په حقیقت کې د افغانستان په بانکي سکتور کې د لومړي ځل لپاره د دې سیستم جوړول یو غوره نوښت ګڼل کیږي، ځکه چې د اقتصاد او سوداګرۍ په برخه کې د پام وړ مستقیمې او غیر مستقیمې مالي ګټې لري او د هېواد د اقتصادي ودې او پرمختګونو زمینه تأمینوي. دا سیستم د نړیوال بانک، نړیوالې مالي ادارې (IFC) او د حرکت مؤسسې په مرسته پلي کیږي.

**هغه لاسته راوړنې چې په دې برخه کې تر اوسه پورې ترسره شوي دي عبارت دي له:**

- په ۲۰۱۳ میلادي کال کې د کریدت انفو (د سیستم د سافټ ویر او هارډ ویر چمتو کوونکي) شرکت سره د تړون لاسلیکول.
- په ۲۰۱۳ میلادي کال کې د سوداګریزو بانکونو لوړپو کارکوونکو او د افغانستان بانک د مالي چارو د څارنې ټیم لیډرانو ته د عامه اعتباراتو د ثبت سیستم د ډیزاین په موخه د ورکشاپ جوړول.
- د افغانستان د بانکي سکتور له اړتیاوو سره سم د سیستم ډیزاینول
- په امنیتي کمرو، عایق، ایرکنډیشن، د اور لګیدنې آلارام او Access Control System باندې د سمبال دیټا سنټر جوړول
- د عامه اعتباراتو د ثبت سیستم ته د Back Office او د کنفرانس د خوني جوړول
- د ۲۰۱۳ میلادي کال په سپتمبر کې د سوداګریزو بانکونو د معلوماتي تکنالوژۍ او د مالي چارو د څارنې د آمریت کارکوونکو ته د عامه اعتباراتو د ثبت سیستم د روزنیز پروګرام چمتو کول.
- په ۲۰۱۳ میلادي کال کې د سوداګریزو بانکونو او د افغانستان بانک د مالي چارو د څارنې ۵۰ تنو کارکوونکو لپاره له سیستم څخه د ګټې اخیستنې د څرنګوالي په هکله د روزنیز پروګرام چمتو کول.
- په ۲۰۱۳ میلادي کال کې د عامه اعتباراتو د ثبت سیستم د لومړۍ مرحلې پرانیستل.

**د عامه اعتباراتو د ثبت سیستم ګټې:**

۱. مالي پیسو ته د انفرادي اشخاصو، کوچنیو، منځنیو او سترو سوداګریو لاسرسي زیاتوي.

۲. د اعتباراتو د خطرونو د ټیټیدو لامل کیږي.

۳. د پورونو د کیفیت (Data Quality) د لوړیدو لامل کیږي.

۴. د سالمې سیالی د عمل ګړندیتوب، روڼوالی او پیاوړتیا له ځانه سره لري.

**د عامه اعتباراتو د ثبت سیستم کاروونکي:**

۱. سوداګریز بانکونه

۲. کوچنۍ مالي مؤسسې

۳. د سیستم له پلي کیدو څخه د څارنې په موخه د افغانستان بانک د مالي چارو د څارنې اداره.

۴. مخابراتي شرکتونه، د بیمې مؤسسې، سوداګریزې محکمې، د اجارې مؤسسې، مالیاتي ادارې او ...

**د عامه اعتباراتو د ثبت سیستم ځانګړتیاوې:**

۱. سیستم په بشپړه توګه الکترونیکي او په اوسنۍ تکنالوژۍ سمبال دی.


۲. د انټرنټ او خوندي اړیکو له لارې د لاسرسي وړ دی.

۳. د بشپړ اتوماتیکې پلټنې قابلیت لرونکی دی.

۴. بشپړه الکترونیکي درجه بندي او څېړنه لري.


۵. پر دویم سایت سمبال خوندي سیستم لري.

# د تادیاتو سیستم



# د تادياتو سيستم

د تادياتو لوی مدیریت په مختلفو تادياتي سيستمونو سمبال دی چې ټولې کورنۍ او نړيوالې معاملې په خپل وخت سره ترسره کوي. هغه معاملې چې د ۱۳۹۱ مالي کال په اوږدو کې د تادياتي سيستمونو له لارې ترسره شوي دي، د وارده، صادره او د اسعارو له تفکيک سره په لاندې ډول وړاندې کيږي.




## نړيوال تاديات (SWIFT)

د نړيوال تادياتو سيستم يا سويفټ د بهرنيو معاملو د ترسره کولو لپاره چې په کې د دولتي ادارو، نړيوالو مالي مؤسسو وارده او صادره معاملې او يو شمېر معاملې د هغو بانکونو په فرمايش چې په افغانستان کې فعاليت کوي په بهرنيو بانکونو کې د هغوي د پرانيستل شويو حسابونو په وجه کې د شتمنيو د تقويې په موخه ليږدول کيږي، کارول کيږي. دا سيستم په نړيوالو معيارونو سره د سويفټ کمپنۍ له تائيد شوي پلان او کړنلارې سره سم او د هغه د ټولو اړخونو د امنيت په پام کې نيولو سره هر کال نوی کيږي.

په دې برخه کې ۱،۲۷۶ وارده معاملې د ۳.۴ ملیارده امریکایي ډالرو په ارزښت او ۶۳ د یورو معاملې د ۴۷.۹ ملیونه یورو په ارزښت او همدا ډول د ۲،۳۹۳ صادره ډالري معاملې د ۵.۳ ملیارده امریکایي ډالرو په ارزښت او ۲۵۹ صادره معاملې د ۷۷.۴ ملیونه یورو په ارزښت ترسره شوي دي.

باید یادونه وشي چې ۱،۰۴۹ معاملې د IBRD او FX Deal معاملو اړوند د ۱.۴۷ ملیارده امریکایي ډالرو په ارزښت هم ترسره شوي دي.

۱۷ ګراف د۱۳۹۲ مالي کال په اوږدو کې د نړیوالو تادیاتو وارده او صادره معاملې ښکاره کوي.


## د بانکونو ترمنځ تاديات(ACSS)

د بانکونو ترمنځ د تادياتو سيستم چې د هېواد د مالي سيستم يو له مهمو او حياتي وسايلو څخه شمېرل کيږي او د بانکونو، مالي مؤسسو او افرادو ترمنځ د پيسو په ليږد کې ارزښتناکه رول لوبوي، د تادياتو د لوی مديريت لخوا اداره کيږي. له بلې خوا پورته ياد شوی سيستم د دولتي عوايدو په راټولولو او د سوداګريزو بانکونو له لارې د اشخاصو او شرکتونو ورکړه د دولت د هغو حسابونو په وجه چې په مرکزي بانک کې يې پرانيستلي دي، اغيزناکه واقع شوي دي. د افغانستان بانک د سوداګريزو بانکونو د بين البانکي معاملو د ترسره کولو لپاره چې په افغانستان کې فعاليت لري له برښنايي سيستم ACSS څخه ګټه پورته کوي.

د ۱۳۹۲ مالي کال په اوږدو کې د ذکر شوي سيستم لخوا ۷۸،۴۳۱ افغانۍ معاملې د ۳۹۵.۹۰ ملیارده افغانۍ په ارزښت او ۵۲،۲۴۰ ډالري معاملې د ۷.۱۶۹ ملیارده امریکایي ډالرو په ارزښت او ۱،۴۳۳ د یورو معاملې د ۷۳.۱۰۲ ملیونه یورو په ارزښت ترسره شوي دي.

د یادونې وړ ده چې په تیرو څو کلونو کې افغانۍ معاملې د ډالري معاملو په پرتله هر کال د زیاتوالي ترځنګ صعودي بهیر درلودلی.


۱۸ ګراف د ۱۳۹۲ مالي کال په ترڅ کې د ACSS له لارې افغانۍ او اسعاري معاملې ښکاره کوي.




## د نمایندګیو ترمنځ تادیات (AFTS)

د ۱۳۹۲ مالي کال په اوږدو کې د نمایندګیو ترمنځ او تلګرام د سیستم له لارې ټولیزه افغانۍ ۴،۵۹۳ صادره معاملې د (۷۹،۳۶۵،۹۲۸،۶۶۲.۴۷) افغانۍ په ارزښت او ۲۵۳ ډالري معاملې د (۶۹،۰۷۲،۱۸۹.۰۰ ) ډالرو په ارزښت او ټولیزه ۱۲،۸۴۳ وارده افغانۍ معاملې د ( ۸۵،۸۳۶،۸۹۵،۵۰۳.۰۰) افغانۍ په ارزښت او ۶۰۴ ډالري معاملې د (۳۵۱،۴۲۲،۵۷۰.۰۰) ډالرو په ارزښت او همدا ډول ۴ د یورو معاملې د (۱،۵۰۵،۰۰۰) یورو په ارزښت ترسره شوي دي.


۱۹ ګراف د ۱۳۹۲ مالي کال په ترڅ کې د نمایندګیوترمنځ د تادیاتو برخې لخوا په افغانۍ د معاملو ارزښت ښکاره کوي.




## د چکونو د تسویې او تصفیې برخه (Clearing House)

کلیرینګ هاوس هم د دې ادارې یو له کاري برخو څخه دی چې په ۱۳۹۲ مالي کال کې یې ۳،۳۳۳ چکونه د ۸۷۶.۶ ملیونه افغانۍ په ارزښت او ۳،۰۵۸ چکونه د ۲۸.۳ ملیونه ډالرو په ارزښت او ۲۷ قطعې د یورو چکونه د ۲۱۷ زرو یورو په ارزښت تسویه او تصفیه کړي دي.

۲۰ ګراف د کلیرینګ هاوس لخوا د تصفیه شویو چکونو شمېرې ښکاره کوي.




## عمده کړنې:

د تادیاتو لوی مدیریت د مشتریانو د کورنیو او نړیوالو معاملو د ترسره کولو سربېره د ۱۳۹۲ مالي کال په ترڅ کې لاندې کړنې هم ترسره کړې دي:

په ۲۸ پاڼو کې د پورته ذکر شویو څلورو سیستمونو د دندو لایحو او کاري کړنلارو چمتو کول چې د هر کاري سیستم اړتیا ګڼل کیږي. یادې شوې کړنلارې د ریاست د مقام لخوا ګمارل شوې کمیټې، مطالعه، تائید او د عامل پلاوي لخوا منظور شوي دي.

د افغانستان بانک تیر کال د هېواد د تادیاتي سیستمونو د عصري کولو د بهیر په لړ کې توانیدلی دی چې د نوي

تادیاتي سیستمونو د پروژو پروګرام چې د بانکونو ترمنځ د معاملو د تصفیې، د بیه لرونکو پاڼو د معاملو د ترسره کولو او د چکونو د تصفیې لپاره په بشپړه توګه برښنایي کار کوي، نهایي کړي چې د ۱۳۹۳ کال تر پای پورې به نصب او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

له هغه ځایه چې افغانستان په راکړه او ورکړه کې د نغدو معاملو تر ټولو د لوړ رقم هېواد دی چې له دې ډلې د ورکړې ډېری معاملې او د دولتي عوایدو راټولول هم نغد تادیه او تصفیه کیږي، د افغانستان بانک د بانکونو ترمنځ د تادیاتو د سیستم لخوا د ګمرکونو د عوایدو راټولو لپاره له سوداګریزو بانکونو څخه په ګټې اخیستنې سره د ګمرکونو د حسابونو په وجه چې د افغانستان بانک له نمایندګیو سره یې پرانیستلي دي، د مالیې وزارت د ګمرکونو له ریاست سره تړون لاسلیک کړی دی چې د هغه په اساس یې خپل د بانکونو ترمنځ د تادیاتو سیستم هم د زیاتو معلوماتو د ځای پر ځای کولو لپاره تعدیل کړی دی چې اوس د ازمایښت په پړاو کې قرار لري او ډېر ژر به د یادو معاملو راټولولو لپاره تري ګټه واخیستل شي.

د یادونې وړ ده چې تېر کال د اړونده آمرینو لخوا کارکوونکو لپاره د ظرفیتونو د لوړولو پروګرام هم په لار اچول شوی دی چې د کارکوونکو د پوهې د کچې په لوړولو کې مهم رول لري.

# د بازار عملیات



# د بازار عملیات

د بازار عملیات په ټولیزه توګه د پولي سیاست اجرائیوي بنسټ ګڼل کیږي. اوس مهال د افغانستان بانک د بازار عملیات لوی مدیریت د نورو دندو په څنګ کې، د هېواد اسعاري زېرمو د اداري مهمه دنده هم په غاړه لري. په همدې ډول، د اسعارو، بیه لرونکو پاڼو لیلام او د لیتراف کریډېټونو پرانیستل د بازار عملیات د لوی مدیریت په مهمو دندو کې شامل دي چې هر یو یې په لنډه توګه وړاندې کیږي.

**ریزرف شتمنی**

د افغانستان بانک ریزرف شتمنی د اړونده دفترونو په کتنې سره د ۱۳۹۲ کال د لینډۍ میاشتې په پای کې ( د مالي کال په پای) د ۷.۰۶۵ ملیارده امریکایي ډالرو معادل وې او د لومړۍ ربع په پای یعنې د ۱۳۹۲ کال د کب د میاشتې په وروستیو کې یې ۷.۰۷۵ ملیارده ډالرو ته زیاتوالی موندلی دی چې په دریو میاشتو کې، د مرکزي بانک په پورتفولیوی کې لس ملیونه ډالره زیاتوالی ښکاره کوي. د افغانستان بانک په پورتفولیو کې د زېرمې (ریزرف) د ټیټوالي اصلي لامل د ۱۳۹۱ کال په پرتله په نړیوالو بازارونو کې د اسعارو او سرو زرو د نرخ د غیر مترقبه کموالی او ښکته راتلل ګڼل کیږي.

د بازار عملیاتو د پانګې اچونې له پراخ کړکیچ او په نړیوالو بازارونو کې د ګټانې د نرخ د بې ساري ټیټوالي په پام کې نیولو سره، د پانګونو د ګټانې د عوایدو شاوخوا ۳۰ ملیونه امریکایي ډالره اټکل کړي ؤ چې په پایله کې وتوانیده چې د خپلې پانګونې له لارې ۲۹ ملیونه امریکایي ډالره ګټه ترلاسه کړي.

**د اسعارو لیلام:**

په ۱۳۹۲ مالي کال کې د اسعارو لیلام په هره اونۍ کې ترسره شوی، څرنګه چې په ټولیزه توګه (۱۰۱) آکشنه د اسعارو د لیلام(آکشن) د برخې لخوا ترسره شوي دي. په دې موده کې په ټولیزه توګه درې ملیارده او څلور سوه او اولس ملیونه او پنځه سوه څلور اتیا زره (۳،۴۱۷،۵۸۴،۰۰۰) ډالره د دې مدیریت لخوا په شرایط وړ صرافانو او جواز لرونکو سوداګریزو بانکونو پلورل شوي دي.

**د بیه لرونکو پاڼو لیلام:**

د ۱۳۹۲ مالي کال له پیل څخه تر پایه پورې د دې اداري لخوا په اونۍ کې یو ځل د بیه لرونکو پاڼو لیلام په لار اچول شوی او په ورته وخت کې د لومړي ځل لپاره یو کلن (۳۶۴ ورځنی) بیه لرونکي پاڼې د افغانستان بانک لخوا بازار ته پیژندل شوي دي.

د ۱۳۹۲ کال په اوږدو کې لاندې بیه لرونکي پاڼې لیلام شوي دي:

- ۲۸ ورځنی ۷۸،۳۵۲،۰۰۰،۰۰۰.۰۰
- ۱۸۲ ورځنی ۲۵،۸۷۴،۰۰۰،۰۰۰.۰۰
- ۳۶۴ ورځنی ۱۷،۱۶۰،۰۰۰،۰۰۰.۰۰

۲۱ ګراف د ۱۳۹۲ کال په ترځ کې د بیه لرونکو پاڼو لیلام ښکاره کوي.




د روان کال په اوږدو کې د یوې شپې اماناتو د اسانتیا (Overnight Deposit Facility) اوسط چې د سوداګریزو بانکونو لخوا د افغانستان بانک سره اېښودل شوي دي، ۳،۲۵۱،۳۱۴،۲۳۸.۴۰ افغانۍ ته رسیږي او له همدې کبله د بازار عملیات دفتر ۵۸،۸۰۸،۷۰۱ افغانۍ ګټانه امانات اېښودونکو ته ورکړې ده. همدا ډول د همدې مودې په ترځ کې د افغانستان بانک سره د سوداګریزو بانکونو د اجباري زیرمو (Required Reserve) له کبله په ټولیزه توګه ۲۵۷،۵۷۸،۳۹۲ افغانۍ سوداګریزو بانکونو ته تادیه شوي دي.

**لیتراف کریډیټونه:**

د ۱۳۹۲ کال په ترځ کې، په ټولیزه توګه ۹ لیتراف کریډېټونه د ۱۱۰،۹۹۷،۱۳۸ ډالرو په ارزښت او دوه لیټراف کریډېټونه په ټولیزه توګه د ۵۳،۸۷۰،۶۵۰ افغانۍ په ارزښت سره پرانیستل شوي دي. د لیټراف کریډېټ له پرانیستل کیدو سربېره، د معامله لرونکو بانکونو له (۲۰۰) څخه زیاتو پیغامونو او د وزارتونو او دولتي مراجعو په هکله (۳۰۰) مکتوبونو ته ځواب لیږدول شوی دی.

# بودجه او مالي صورت حساب



# بودجه او مالي صورت حساب

دا آمریت د افغانستان بانک ټولې محاسباتي چارې پـه غـاړه لري. د بودجې جوړښت، عایداتي، لګښتي او مصرفي شقـوق، د مالي معاملو ثبت او محاسبه او نورې مـالـي چـارې د دې برخې له دندو څخه دي. مالي لوی آمریت په عمومـي تـوګـه ټولې مالي چارې او د بانک حسابونه په کنټرول کې لري او په پای کې کره مالي معلومات، عملیاتي پایلې او اقتصادي کړنـې د بیلانس شیټ، د عوایدو او لګښـتـونـو صـورت حـسـاب، د عوایدو او لګښتونو د پیژندلو صورت حساب او هـمـدا ډول نغدي جریان د صورت حساب له لارې وړانـدې کـوي. دې آمریت د ۱۳۹۲ کال په اوږدو کې لاندې کړنې ترسره کـړي دي:

د افغانستان بانک بودجه، د دې بانک د عالي شورا لخوا چې د تصمیم نیولو تر ټولو لوړه مرجع ده، تصویب کیږي؛ څرنګـه چې د افغانستان بانک د قانون نهمې مادې شپاړسمې فقرې، د افغانستان بانک د بودجې په هکله تصمیم نیول د افـغـانسـتـان بانک د عالي شورا له واکونو څخه ګڼلي دي. د افـغـانسـتـان بانک لکه د نورو دولتي ادارو په څیر خپله عادي او پرمختیایي بودجه په بیلابیلو پړاونو کې چمتو، ترتیب او تصویبوي.

**د افغانستان بانک د بودجې جوړښت**

د افغانستان بانک بودجه په خپل جوړښت کې د یـو شـمـېـر شقوقو درلودونکې ده. عایداتي، لګښتي، او مصرفي شقوق او استهلاک او فرمایشونه له مهمو شقوقو څخه دي چې دا شقوق له کوچنیو شقوقو څخـه لاسـتـه راځي. عـایـداتـي شـقـوق کمیشنونه، د بیلا بېلو ټکټانو له درکه عواید او نا ترلاسه شـوي عواید (د بهرنیو اسعارو مبادله، د سرو زرو زېـرمـې، د کـابـل بانک پور) په بر کې نیسي. لګښـتـي شـقـوق د پـرسـونـلـي، عملیاتي، احتیاطي عملیاتي، د نه تمې وړ/ احـتـمـالـي پـیـښـو لګښتونه او د اسعارو د مبادلې له پلوه زیان رانغاړي.

مصرفي شقوق پرمختیایي (اثاثیه او تجهـیـزات)، تـعـمـیـراتـي پرمختیایي او کارکوونکو ته د پور ورکولو شقوق رانغاړي.


په پورته یاد شوي شقوقو کې وړاندې شوي ارقام د شعبـو لـه کاري پلان سره سم ترلاسه کیږي، اړوندې شعبـې شـمـېـرې (ارقام) د اړتیا وړ منابعو سره سم او یا هغه چارې چې د دوی په پلان کې شاملې وي، وړاندې کوي چې دا شمېرې په ځینـو برخو کې حقیقي او په ځینو برخو کې اټکلي دي. دا شـمـېـرې په کوچنیو شقوقو کې شاملیږي چې په پـایـلـه کـې عـمـومـي ټولیزه شقوق جوړوي. شقوق د مرکز او اووه ګونو زونونو لـه مخې وېشل کیږي. د مالي کال د هر دریو میاشتو د بـودجـې حقیقي شمېرې (ارقام) د افغانستان بانک د بودجې په جلا جلا برخو کې ځای پر ځای کیږي.

**د ۱۳۹۲ کال بودجه**

د افغانستان بانک د عالي شورا د ۱۳۹۱ کال د څلورمې ربـعـې له غونډې درې میاشتې مخکې، د افغانستان بانک د مـالـي او محاسبې لوی آمریت د اړوندو شعبو په همغږۍ د افـغـانسـتـان بانک د ۱۳۹۲ کال بودجې د برابرولو او ترتیبولو څـرنـګـوالـی پیل کړ. وروسته د ارزونې لپـاره د بـودجـې ګـمـارل شـوي کمېسیون ته وسپارله او د بودجې ګمارل شوي کمېسـیـون لـه دقیقې ارزونې او د یو لړ تعدیلاتو له رامنځ ته کولو وروسـتـه موضوع د افغانستان بانک عـامـل پـلاوي تـه راجع کـړه. د افغانستان بانک عامل پلاوي یاده بودجه د غـور او څـېـړنـې وروسته تائید کړه او د افغانستان بانک عالي شـورا تـه یـې د تصویب لپاره راجع کړه چې د عالي شورا د ۱۳۹۱/۹/۴ نـېـټـې په غونډه کې د ۱۳۹۲ کال بودجه تصویب او تر اجـرا لانـدې ونیول شوه.

د ۱۳۹۲ کال په بودجه کې ترلاسه شوې شمېرې د افغـانسـتـان بانک د عملیاتي او پرمختیایي پلانونو په پام کې نـیـولـو سره وړاندې شوي چې د حقیقي شمېرو له مخې په ځینو شـقـوقـو کې ټیټوالی او لوړوالی ښکاره کوي.

۲۲ ګراف د بودجې د شقوقو زیاتوالی او کموالی ښکاره کوي.




## عایداتي شقوق

دا برخه د کمیشنونو د عوایدو په شقوقو کې شامله ده، د کمیشنونو شقوق د کمېشن شق له درکه مالي کنټرول، د جاري حساب پرانیستل، چکبوکونه، سویفټ، د پانګې لیږد، د ډالرو او نورو بهرنیو اسعارو د پلور پر وړاندې جریمه، د ډالرو د مبادلې پر وړاندې جریمه او نور متفرقه کمیشنونه په بر کې نیسي. د ۱۳۹۲ کال حقیقي شمېرې د کمیشن په شقوقو کې د پلان شوي بودجې له مخې ۱۶ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي چې د دې زیاتوالي لامل د افغانۍ په ارزښت کې بدلونونه او د کمیشنونو په مقرره (پالیسۍ) کې بدلونونه دي.

د اسعاري پانګونو له پلوه د ټکټانې د عوایدو شقوق د عوایدو له شقوقو څخه بل شق دی چې د رمپ ( RAMP ) پروژې له پلوه د ډالري ترلاسه شویو عوایدو شقوق، په بهرنیو بانکونو کې د اماناتو له درکه ټکټانه، د معامله لرونکو بانکونو ټکټانه او د بیه لرونکو پاڼو په پیرلو کې تخفیف په بر کې نیسي. د ۱۳۹۲ کال حقیقي شمېرې د بهرنیو اسعارو د پانګونو له پلوه د ټکټانې د عوایدو په شقوقو کې د پلان شوي بودجې له مخې ۱۹ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي چې د دې ټیټوالی لامل په نړیوالو بازارونو کې د کاري معاملو ټیټوالی دی.

د ټکټانې د عاید شق کابل بانک ته د پور له درکه د پلان شوي بودجې په پرتله د ۲۴ سلنې ټیټوالي ښکارندوی دی چې د دې ټیټوالي لامل په ۱۳۹۲ کال کې د مالیې وزارت لخوا د تاکل شوي پور د ورکړې ( له ټرون لیک سره سم) راښکته کیدل دي.


د اسعارو د مبادلې له پلوه د نا ترلاسه شویو عوایدو شقوق د پلان شوي بودجې له مخې ۴۸ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي چې د دې زیاتوالي لامل په بازار کې د افغانۍ د نرخ په وړاندې د ډالرو د نرخ لوړیدل دي.

د اسعارو د مبادلې له درکه د ترلاسه شویو(تحقق موندونکو) عوایدو شقوق د پلان شوي بودجې له مخې ۳۲۷ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي چې دا زیاتوالی په بازار کې د افغانۍ د نرخ پر وړاندې د ډالرو د نرخ د لوړیدو له امله دی.

د نورو عوایدو شقوق چې د نوي ډالري حساب د پرانیستلو فیس، د نومونو په توافق کې د ځنډ په موخه جریمه، د مرستو له کبله عواید، د مالي ادارو پر وړاندې جریمه، د کرایې عواید، د بانکونو د څارنې د ډیپارټمنټ فیس، د بانکونو د مالي وضعیت کنټرول، د جایدادونو عواید، د فزیکي پیسو د لیږد فیس، د الکترونیکي پیسو د خدماتو د ادارې کلني عواید او داسې نور عواید په بر کې نیسي.

د ۱۳۹۲ کال حقیقي شمېرې (ارقام) د پلان شوي بودجې له مخې ۱۹ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي چې د دې زیاتوالي لامل پر بانکونو د فیس لوړوالی دی.

۲۳ ګراف د افغانستان بانک د ۱۳۹۲ کال په بودجه کې د عوایدو شقوق ښکاره کوي.





## لګښتي شقوق

په لګښتي شقوقو کې له شاملو برخو څخه یو هم پرسونلي شقوق دي چې د معاشونو، د اضافه کارۍ، د هڅوونکو امتیازونو، د مرستو او تقاعد شقوق رانغاړي. د ۱۳۹۲ کال

حقیقي شمېرې په لګښتي شقوقو کې ۵ سلنه ټیټوالی په ګوته کوي چې د پلان شوې بودجې له مخې د پام وړ بدلونونه نه ښکاره کوي. د ذکر شوي شقوق د ۱۳۹۲ کال حقیقي شمېرې په ځینو برخو کې زیاتوالی او په ځینو برخو کې ټیټوالی ښکاره کوي چې په ټولیزه توګه د ۶ سلنې ټیټوالي په لرلو سره د پلان شوې بودجې له مخې د پام وړ بدلونونه نه ښکاره کوي.

د احتیاطي عملیاتي او د نه تمې وړ/ احتمالي پيښو د لګښتونو شقوقو په ۱۳۹۲ کال کې حقیقي شمېرې او لګښتونه نه درلوده او پلان شوې بودجه مصرف شوې نه ده ځکه چې د افغانستان بانک له دا ډول حالاتو سره مخ شوی نه دی.

**۲۴ ګراف د افغانستان بانک د ۱۳۹۲ کال په بودجه کې لګښتي شقوق ښکاره کوي.**




## د مخارجو شقوق

دا برخه د پرمختیایي ( اثاثیه او تجهیزات)، تعمیراتي پرمختیایي، احتیاطي پرمختیایي او کارکوونکو ته د پور ورکړې شقوق رانغاړي.

پرمختیایي شقوق (اثاثیه او تجهیزات) فرنیچر او اثاثیه، برېښنایي سامان الات، موټرونه، کمپیوټر او پرنټر، د ټکنالوژۍ د وسایلو تجهیزات، د متفرقه برخې تجهیزات او پوستکالي (سافټ ویر) په بر کې نیسي. د ۱۳۹۲ کال حقیقي شمېرې په یاد شقوق کې د پلان شوې بودجې له مخې ۶۴ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي چې دا ټیټوالی د قراردادونو په لاسلیک کې د ځنډ، د قرارداد لاسلیک کوونکو لپاره د شرکتونو د نه حاضریدو او د سم بودجوي پلان د نه شتون له امله منځ ته راغلی دی.


په تعمیراتي پرمختیایي شقوق کې تر لاسه شوي شمېرې د مرادخانۍ په ځمکه کې د افغانستان بانک د نوې ودانۍ طرح او ډیزاین، د نمایندګیو احاطې او یا ودانۍ لپاره د ځمکې پیرېدل، نمایندګیو لپاره د ودانۍ جوړول، د مرکز او نمایندګیو د اړتیا وړ رغول او ترمیمول او نورې تعمیراتي چارې په بر کې نیسي چې د مرکز او نمایندګیو د موقعیتونو له مخې وېشل شوي دي.

د ۱۳۹۲ کال حقیقي شمېرې په یاد شقوق کې د پلان شوې بودجې له مخې ۵۲ سلنه د بودجې لګښت ښکاره کوي چې د پاتې پیسو د نه لګښت لامل شته ځنډونه لکه ملکیت/ځمکې ته نه لاسرسي، امنیتي ستونزې، تخنیکي ستونزې، په نمایندګیو کې د قراردادونو نه موجودیت او داسې نور موارد دي.

احتیاطي پرمختیایي شقوق په ۱۳۹۲ کال کې حقیقي شمېرې او مخارج نه درلوده او پلان شوې بودجه نه ده لګول شوې ځکه چې د افغانستان بانک له دا ډول حالاتو سره نه دی مخ شوی.

کارکوونکو ته د پور ورکړې برخه هغه بیلا بېل پورونه په بر کې نیسي چې د افغانستان بانک کارکوونکو ته ورکول کیږي. د ۱۳۹۲ کال حقیقي شمېرې ۱۱۳ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د افغانستان بانک د عالي شورا د تصویب پر بنسټ چې کارکوونکو لپاره د کور د اخیستلو د اوږد مهاله پور ورکړې او د پور په شقوقو کې تعدیل لپاره د وړاندیزونو په برخه کې صورت نیولی چې د افغانستان بانک د عالي شورا د (۱۹) ګڼې د ۱۳۹۲/۰۴/۱۴ نېټې تصویب له مخې کارکوونکو لپاره د پور په شقوقو کې تعدیلی مبلغ لوړ شوی.

**۲۵ ګراف د افغانستان بانک د ۱۳۹۲ کال په بودجه کې د مخارجو شقوق ښکاره کوي.**



## بیلانس شیټ

د ۱۳۹۲ کال د لیندۍ ۳۰مه (د ۲۰۱۲ کال د دسمبر ۲۰) د کال پای

| شتمنۍ | یادداشت | ۱۳۹۲-۰۹-۳۰<br>ارقام په زر افغانی "۰۰۰" | ۱۳۹۱<br>ارقام په زر افغانی "۰۰۰"<br>تعدیل شوي |
|---|---|---|---|
| د سرو زرو زېرمې | ٤ | ٤٧,٥٠٨,٨٧٤ | ۶۰,۴۲۴,۰۷۹ |
| د بهرنیو اسعارو نغدي زېرمې | ٥ | ٢٨,٧٥٦,٤٠١ | ۲۱,۳۰۸,۶۵۶ |
| له بانکونو او مالي ادارو څخه د ترلاسه کولو وړ پیسې | ٦ | ٢٦١,٢٠٣,٥٨٣ | ۲۲۱,۹۷۲,۲۹۴ |
| د بیلونو ټریژري | ٧ | ٦٢,٦٨٤,٥٦٤ | ۵۷,۴۴۲,۳۲۳ |
| د پور ورکولو وروستی مرجع | ٨ | ٢٩,١٣٩,٩١٤ | ۳۰,۴۱۴,۹۱۶ |
| طلبات او نور د حصول وړ حسابونه | ٩ | ٨٧٨,٧٩٧ | ۶۳۶,۴۷۳ |
| پانګه اچول شوي ملکیتونه | ١٠ | ٩,٠٠٠ | ۹,۰۰۰ |
| جایدادونه او تجهیزات | ١١ | ٤,٧٣٦,١٨٥ | ۴,۶۴۸,۲۵۱ |
| ناملموسه شتمنۍ | ١٢ | ٢٧٣ | ۱,۰۲۰ |
| نورې شتمنۍ | ١٣ | ١٢,٥٨١,٨٢٤ | ۱۲,۵۷۸,۴۳۱ |
| **ټولیزه شمتنۍ** | | ٤٤٧,٤٩٩,٤١٦ | ۴۰۹,۴۳۵,۴۴۳ |
| **ورکړې او پانګه( اکویټي)** | | | |
| **ورکړې** | | | |
| په ګردښت کې پیسې | ١٣ | ١٦٨,٧٩٦,٦٩٨ | ۱۵۰,۰۰۸,۴۷۹ |
| بیه لرونکې پاڼې | ١٤ | ٣٠,١٢٢,٦٦٩ | ۳۵,۰۸۹,۸۰۹ |
| بانکونو او مالي مؤسسو ته د تادیې وړ | ١٥ | ٥٣,١٩٦,٢٨٤ | ۴۰,۰۹۷,۳۰۰ |
| پیرودونکو ته د تادیې وړ | ١٦ | ١١٠,٥٥٢,٥٠٩ | ۱۰۴,۲۱۲,۲۶۷ |
| ورکړې ( ای . ام . اف ) | ١٧ | ٣٢,٢٦٨ | ۳۲,۲۶۸ |
| د متقاعدینو حقوق | ١٨ | ١,٤٠٨,٢٦٩ | ۱,۳۶۷,۴۳۸ |
| ځنډول شوې مرستې | ١٩ | ٦,٦٨٢ | - |
| تدارکات (پروېژنونه) او نورې ورکړې | ٢٠ | ١٠,١٧١,١٠٢ | ۹,۴۳۵,۳۵۵ |
| **ټولیزه ورکړې** | | ٣٧٤,٢٨٦,٤٨١ | ۳۴۰,۲۴۲,۹۱۵ |
| **پانګه(اکویټي)** | | | |
| پانګه | ٢١ | ١٨,١٣٥,٠٢١ | ۱۵,۳۰۵,۷۵۹ |
| بیا ارزښت موندونکې زېرمې | ٢١ | ٣٧,١٦٧,٨٣١ | ۵۳,۸۸۶,۷۶۸ |
| متراکم زیانونه | ٢١ | ١٧,٩١٠,٠٨٣ | - |
| ټولیزه پانګه ( اکویټي) | | ٧٣,٢١٢,٩٣٥ | ۶۹,۱۹۲,۵۲۷ |
| **ټولیزه ورکړې او پانګې(اکویټي)** | | ٤٤٧,٤٩٩,٤١٦ | ۴۰۹,۴۳۵,۴۴۳ |

له یو څخه تر ۳۳ شمېرې پورې ضمیموي یادداشتونه د مالي راپورونو بنسټیزې برخې جوړوي

سید یونس
مالي لوی آمر

خان افضل هډه وال
د افغانستان بانک لومړی مرستیال

نور الله دلاوري
د افغانستان بانک لوی رئیس

# د عوایدو صورت حساب

## د ۱۳۹۲ کال د لیندۍ ۳۰ مه (د ۲۰۱۲ کال د دسمبر ۲۰) د مالي کال پای

| | یادداشت | ۱۳۹۲<br>ارقام په زر افغانۍ "۰۰۰" | ۱۳۹۱<br>ارقام په زر افغانۍ"۰۰۰" |
|---|---|---|---|
| د ټکټانې عاید | ۲۳ | ۱,۷۳۹,۰۹٦ | ۲,۰۷۵,۱۲۷ |
| د ټکټانې مصارف | ۲٤ | (۱,٤۹٤,۸۰۹) | (۹۶۵,۶۰۶) |
| **د ټکټانې خالص عاید** | | ۲٤٤,۲۸۷ | ۱,۱۰۹,۵۲۱ |
| د فیس او کمېشن عاید | | ۳۰۸,۰۸٤ | ۱۹۹,۰۷۹ |
| د فیس او کمېشن عاید | | (۱۲٦,۷۰۷) | (۶۱,۸۸۱) |
| **د فیس او کمېشن خالص عاید** | | ۱۸۱,۳۷٦ | ۱۳۷,۱۹۸ |
| د اسعارو د مبادلې له امله ګټه/تاوان | | ۱۰,۲٤٤,٤٤۱ | ۵,۵۶۴,۲۴۵ |
| د مالي شتمنیو د پلور له اړخه خالص زیاتوالی | | (۱۸,۰۰۰) | (۱۳,۰۷۹) |
| نور عملیاتي عواید | ۲۵ | ۹۸,۰۲٦ | ۱۴۱,۰۱۳ |
| | | ۱۰,۳۲٤,٤٦۷ | ۵,۶۹۲,۱۷۹ |
| **عملیاتي عواید/مصارف** | | ۱۰,۷۵۰,۱۳۰ | ۶,۹۳۸,۸۹۸ |
| د کارکوونکو مصارف | ۲٦ | (۱,۰۵۰,٦۵۷) | (۱۱۲,۰۶۵) |
| د بانکنوټونو د چاپ مصارف | | (۹۹۵,۳۹٤) | - |
| نور مصرفونه | ۲۷ | (۳۵۸,۷۷۱) | (۲۲۹,۸۲۳) |
| استهلاکونه یا فرمایشونه | | (٦۱,۲۱۲) | (۵۴,۰۰۱) |
| د عملیاتو له درکه خالص عاید | ۸ | ۸,۲۸٤,۰۹۷ | ۶,۵۴۳,۰۰۹ |
| د اسعارو د مبادلې غیر حقیقي عاید | ۱۱ | ۱۲,٤۵۵,۲٤۸ | ۷,۸۷۰,۴۵۳ |
| **کلنی عاید** | ۱۲او۱۱ | ۲۰,۷۳۹,۳٤۵ | ۱۴,۴۱۳,۴۶۲ |

له یو څخه تر ۳۳ شمېرې پورې ضمیموي یادداشتونه د مالي راپورونو بنسټیزې برخې جوړوي.

**نور الله دلاوري**
**د افغانستان بانک لوی رئیس**

**خان افضل هډه وال**
**د افغانستان بانک لومړی مرستیال**

**سید یونس**
**د مالي او محاسبې لوی آمر**

**د افغانستان بانک**

**د پیژندل شویو عوایدو او مصارفو صورت حساب**

*د ۱۳۹۲ کال د لیندۍ ۳۰ مه (د ۲۰۱۲ کال د دسمبر ۲۰) د کال پای*

| | یادداشت | ۱۳۹۲-۰۹-۳۰<br>ارقام په زر افغانی "۰۰۰" | ۱۳۹۱<br>ارقام په زر افغانی "۰۰۰"<br>تعدیل شوي |
|---|---|---|---|
| د سرو زرو د زېرمو په بیا ارزښت کې زیاتوالی/ ټیټوالی چې راساً په پانګه (اکویټي ) کې ثبت شوی دی. | | **۲۰,۷۳۹,۳٤٥** | ۱۴,۴۱۳,۴۶۲ |
| کلنی ګټه/ تاوان | | **(۱٦,٦٨٦,٧٢٢)** | (۳۸۲,۰۲۴) |
| | | **(۳۲,۲۱٥)** | ۵۲,۸۳۸ |
| | | **(۱٦,٧۱۸,۹۳٧)** | (۳۲۹,۱۸۶) |
| ټولیزه کلني پیژندل شوي عواید/ مصارف | ۲۱.۱ | **٤,۰۲۰,٤۰۸** | ۱۴,۰۸۴,۲۷۶ |

له یو څخه تر ۳۳ شمېرې پورې ضمیموي یادداشتونه د مالي راپورونو بنسټیزې برخې جوړوي.

| | | |
|---|---|---|
| **سید یونس**<br>**مالي لوی آمر** | **خان افضل هډه وال**<br>**د افغانستان بانک لومړی مرستیال** | **نور الله دلاوري**<br>**د افغانستان بانک لوی** |

## د نغدي جریان صورت حساب

### د ۱۳۹۲ کال د لیندۍ ۳۰ مه (د ۲۰۱۲ کال د دسمبر ۲۰) د کال پای

| | یادداشت | ۱۳۹۲-۰۹-۳۰ ارقام په زر افغانی "۰۰۰" | ۱۳۹۱ ارقام په زر افغانی "۰۰۰" |
|---|---|---|---|
| **د عملیاتي کړنو نقدي جریانات** | | | |
| په کال کې خالصه ګټه/ (تاوان) | | ۲۰,۷۳۹,۳٤٥ | ۱۴,۴۱۳,۴۶۲ |
| **غیر نقدي کړنو لپاره تعدیل:** | | | |
| استهلاک یا فرسایشونه | ۱۱ او ۱۲ | ٦۱,۲۱۲ | ۵۴,۰۰۱ |
| د ټکټاني عاید | ۲۲ | (۱,٤۲٦,۵۹۹) | (۱,۷۰۲,۳۴۲) |
| د ټکټاني مصارف | ۲۴ | ۱,٤۹٤,۸۰۹ | ۹۶۵,۶۰۶ |
| پلور ته چمتو شتمنیو له درکه د ټکټاني عواید | ۲۳ | (۳۱۲,٤۹۸) | (۳۷۲,۷۸۵) |
| د لګښت تاوان (نقص) لپاره تخصیص: | | – | – |
| د مرستو له پلوه عواید | ۲۰ | (۲۱٦) | (۳۴,۲۹۶) |
| د کارکوونکو د تقاعد د تقویت لپاره مرسته او همغږي | ۱۹ | ۲٤۷,٦۹۷ | (۳۰۹,۹۶۱) |
| د اسعارو د مبادلې له امله غیر حقیقي ګټه / تاوان | | (۱۲,٤۵۵,۲٤۸) | (۷,۸۷۰,۴۵۳) |
| | | ۸,۳٤۸,۵۰۲ | ۵,۱۴۳,۲۳۲ |
| **کار لاندې پانګه کې بدلونونه** | | | |
| د بانکونو او مالي مؤسسو د حصول وړ ټېتوالی | ۶ | ۱٦,۹۹۵,۵۷۰ | ۲۰,۷۳۴,۳۵۱ |
| د پور ورکونې د وروستي مرجع په توګه د مرستې ټېټوالی | ۸ | ۱,۲۷۵,۰۰۲ | ۴,۴۲۸,۳۰۷ |
| د طلباتو او نور د حصول وړ حسابونو زیاتیدل | ۹ | (۲٤۲,۳۲٤) | (۲۸۱,۵۵۰) |
| په نورو شتمنیو کې ټېټوالی | ۱۳ | (۳,۳۹۳) | ۳,۹۹۷ |
| په ګردښت کې د افغانۍ زیاتوالی | ۱۴ | ۱۸,۷۸۸,۲۱۹ | ۱,۹۵۲,۶۷۹ |
| بانکونو او مالي مؤسسو ته د تادیې وړ زیاتوالی | ۱۶ | ۱۳,۰۹۸,۹۸٤ | ۱,۱۸۸,۵۶۷ |
| د مشتریانو د تادیې وړ زیاتوالی | ۱۷ | ٦,۳٤۰,۲٤۲ | ۲۵,۴۷۷,۸۷۴ |
| د آی. ام. اف ورکړې | ۲۰ | ٦,۸۹۹ | – |
| په تدارکاتو (پرویژن) او نورو ورکړو کې زیاتوالی | ۲۱ | ۷۳۵,۷٤۷ | ۱,۳۹۲,۹۰۵ |
| | | ۵٦,۹۹٤,۹٤٤ | ۵۴,۸۹۷,۱۳۰ |
| د عملیاتي فعالیتونو نقدی جریانات | | | |
| ترلاسه شوې ټکټانه | | ٦۵,۳٤۳,٤٤٦ | ۶۰,۰۴۰,۳۶۱ |
| ورکړل شوې ټکټانه | | ۱,۸۹۷,۷۹۵ | ۱,۹۲۰,۰۶۶ |
| تقاعد لپاره تادیه شوې پیسې | | (۱,٤۹٤,۸۰۹) | (۹۶۵,۶۰۶) |
| د عملیاتي فعالیتونو خالص نقدي جریانات | ۱۹ | (۲۰٦,۸٦٦) | (۹,۹۱۷) |
| | | ٦۵,۵۳۹,۵٦۷ | ۶۰,۹۸۴,۹۰۴ |
| د پانګه اچول شوي فعالیتونو نقدي جریانات | | | |
| په پانګه اچونو کې زیاتوالی | ۷ | (۵,۲۷٤,٤۵٦) | ٤,۷۸٦,٤۰۱ |
| د جایدادونو او تجهیزاتو پېرودل | ۱۱ | (۱٤۸,۲۵۹) | (٦۳,۷٦۱) |
| د ناملموسه/ مشهودي شتمنیو پېرودل | ۱۲ | (۱٤۰) | (۳٦٤) |
| | | (۵,٤۲۲,۸۵۵) | ۴,۷۲۲,۲۷۶ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| د پانګه اچول شوي فعالیتونو خالص نقدي جریانات | | | |
| **د بیه لرونکو پاڼو خپرول** | ۱۵ | (٤,٩٦٧,١٤٠) | ۴,۳۳۹,۹۰۹ |
| | | (٤,٩٦٧,١٤٠) | ۴,۳۳۹,۹۰۹ |
| د مالي فعالیتونو خالص نقدي جریانات | | | |
| **د نغدو یا د نغدو معادل خالص زیاتوالی** | | **٥٥,١٤٩,٥٧٢** | **٧٠,٠٤٧,٠٨٩** |
| **په نغدو پیسو باندې د اسعارو د نرخ د بدلون اغیز** | | **٨,٦٨٣,٧٣١** | **٤,٦٩٧,٩٥٤** |
| **د کال په پیل کې نغدې پیسې یا د هغه معادل** | | **١٢١,٢٥٩,٣٢٥** | **٤٦,٥١٤,٢٨٠** |
| **د کال په پای کې نغدې پیسې یا د هغه معادل** | **۲۸** | **١٨٥,٠٩٢,٦٢٨** | ١٢١,٢٥٩,٣٢٥ |

له یو څخه تر ۳۳ شمېرې پورې ضمیموي یادداشتونه د مالي راپورونو بنسټیزې برخې جوړوي.

**سید یونس**
**د مالي او محاسبې لوی آمر**

**خان افضل هډه وال**
**د افغانستان بانک لومړی مرستیال**

**نور الله دلاوري**
**د افغانستان بانک لوی رئیس**

# بانکي عملیات



د بانکي عملیاتو لوی آمریت د ۱۳۹۲ مالي کال په ترڅ کې د خپلو واکونو په محدوده کې لاندې کړنې ترسره کړي دي چې په لنډه توګه ترې یادونه کوو:

- له برښنایي سیستم څخه په ګټې اخیستنې سره د افغانۍ او اسعارو د حرکت ورځنی راپور ترتیب او د هرې نمایندګۍ له توحید وروسته یې د بانک د مشرتابه پلاوی، د پولي سیاست لوی آمریت، د بازار عملیاتو لوی آمریت او اړوندو شعبو ته تسلیم کړي څو د هغه له مخې د ولایتونو د نمایندګیو اجراات او سیالیت عیار شي.
- د ۱۳۹۱ کال د مرغومې د میاشتې له پیل څخه د ۱۳۹۲ کال د لیندۍ د میاشتې تر پایه پورې په ټولیزه توګه (۶،۳۱۸،۸۶۰،۰۰۰) افغانۍ بانکنوټونه چې د زیاتې ګټې اخیستنې له امله زاړه او مندرس شوي له مرکز او ولایتونو څخه راټول او هېواد والو ته د لازمه اسانتیاوو د برابرولو په موخه له شمېرلو او کنټرول څخه وروسته د مراقبت او د زړو بانکنوټونو د حریق برخې د پلاوي تر نظر لاندې، په ځانګړو خونو کې حریق او له منځه یوړل شو او له ګردښت څخه بهر شول.
- د وزیرانو شورا د ۴۱ ګڼې د ۱۳۹۱/۱۰/۱۸ نېټې مصوبې او د افغانستان بانک د قانون له مخې د فیض محمد ناصري سرای هټیوالو نیمه سوځېدلې پیسې چې د کابل په منډوي کې سوځېدلې وې او ۲،۱۷۹،۶۵۰ افغانۍ ته رسیدلې د مندرسو غرفو له لارې د قانوني طی مراحلو وروسته تعویض شوې.
- د ۱۳۹۱ کال د مرغومې د میاشتې له پیل څخه د ۱۳۹۲ کال د لیندۍ د میاشتې تر پای پورې د ولایتونو د نمایندګیو له اړتیا زیاتې پیسې په ټولیزه توګه (۱۷،۰۱۲،۰۰۰،۰۰۰) افغانۍ، (۷۶۸،۳۴۳،۸۰۷) امریکایي ډالره او (۱۲،۴۲۷،۰۰۰) یورو چې د دولت د عوایدو او د سوداګریزو بانکونو د تحویلۍ له درکه ورسره راټولې شوې وې د ملي دفاع د وزارت او هوایي شرکتونو او هم د ځمکې له لارې د هر اړخیزو امنیتي تدبیرونو په نیولو سره مرکز ته لیږدول شوي او په رسمي توګه د بانک لویې خزاندارۍ ته تسلیم شوي دي.
- د افغانستان د اسلامي جمهوریت د وزیرانو د عالي شورا د ۱۳ ګڼې مصوبې د بشپړ پلي کیدو او د افغانۍ د دودیدو په اړه د افغانستان بانک د قانون د ۳۳ مادې د صراحت په پام کې نیولو سره چې په حقیقت کې د ملي یووالي سمبول او ملي هویت دی، نو لازمه ده د خدمتونو د وړاندې کولو په شمول د هر ډول اموالو او توکو پیر او پلور په افغانۍ ترسره شي، د دې آمریت د نشر او مراقبت کارکوونکي د هېواد د امنیتي ادارو استازو په همکارۍ ټول بازارونه کنټرول او بررسي کړي او هغه شمېر پلورنکي چې پلور او د خدمتونو وړاندې کول یې د افغانستان د اسلامي جمهوریت د وزیرانو د شورا د ۱۳ ګڼې د ۱۳۸۳/۱۲/۱۷ نېټې مصوبې خلاف په اسعارو ترسره کول، د منظور شوي مطروحه لایحې سره سم یې له سلو څخه تر سلو زرو افغانۍ نغدي جریمه کړي دي چې د ۱۳۹۱ کال د مرغومې د میاشتې له پیل څخه د ۱۳۹۲ کال د لیندۍ تر پایه پورې په مرکز او ولایتونو کې ډېر شمېر سرغړونکي جریمه شوي دي چې ذکر شوې جریمې (۱۷،۵۳۹،۰۰۰) افغانۍ د بانکنوټونو د نشر او مراقبت په چارو کې د بانکي عملیاتو د معاونیت (۹۹۹۹۰۰۲۳۳۱۵۰۰) شمېرې حساب ته د لیږد وړ دي. دا پروسه د هېواد د امنیتي

ادارو په همکارۍ په مرکز او ولایتونو کې دوام لري.

- د ۱۳۹۲ مالي کال په ترڅ کې ۲،۸۱۴ قطعې زرګون جعلي، ۷۰۰ قطعې پنځه سوه ګون جعلي او ۵۹ قطعې سلګون جعلي، د ډالرو ۴،۱۰۲ قطعې سلګون جعلي او ۱۵۳ قطعې پنځوس ګون جعلي او یو قطعه پنځه سوه ګون هندي کلدارې جعلي او دوه قطعې پنځه زره ګون پاکستانۍ کلدارې جعلي چې د امنیت ملي د ریاست او نورو اړونده ادارو له لارې کشف شوي او د جعلیتوب او نه جعلیتوب د تصدیق په موخه دې آمریت ته استول شوي او وروسته پورته نوټونه د شته وسایلو له لارې لیدل شوي او د جعلیتوب او مهر له تثبیت څخه وروسته، بیرته اړوندې مرجع ته لیږل شوي دي چې د متهمینو په اړه د نهایي پریکړې وروسته به جعلي بانکنوټونه بیرته دې آمریت ته د معدوم کولو په موخه ولیږدول شي.
- د افغانۍ د دودولو او په معاملو کې د اسعارو د کارونې د مخنیوي په هکله د افغانستان د اسلامي جمهوریت ولسمشر د ۴۵ ګڼې د ۱۳۹۲/۵/۵ نېټې فرمان پلي کول، د افغانستان د اسلامي جمهوري ریاست د مقام د ۶۰۵۰ ګڼې د ۱۳۸۹/۱۰/۲۹ نېټې د حکم پلي کول او همدا ډول د وزیرانو د شورا د ۱۳ ګڼې د ۱۳۸۳/۱۲/۱۷ نېټې د مصوبې پلي کول.
- د ملي پیوستون پروګرام ته Excel & PDF (Flat Fail)په فارمټ ډول د Email ( الکترونیکي پیغام) له لارې د ټولو صورت حسابونو لیږدول.
- د ملي پیوستون د پروګرام د ۳،۰۰۰ قطعو پیمنټونو ترلاسه کول او د اړونده شعبو په همکارۍ د هغه پروسس.
- په ټول هېواد کې د نویو بانکي سیستمونو CBS, ACSS, AFTS په کارولو سره د الکترونیکي پیغامونو (ایمیل)، ټیلفون او لیکنې له لارې د زونونو ( د فزیکي پیسو کموالی)، د ملي پیوستون پروګرام(NSP)، وزارتونو او د افغانستان بانک په مرکز او نمایندګیو کې د اړوندو ادارو د فرمایشونو او اړتیاوو تأمینول.
- د افغانستان بانک په ټولو نمایندګیو کې د مرکز له لارې د معاشونو د پیسو د لیږد، اړونده حسابونو او د کلیو د پرمختیایي شورا ګانو حسابونو ته د پرمختیایي پروژو د لګښتونو د فرمایشونو طی مراحل.
- د کلیو پرمختیایي پروژو د پرمخ بیولو لپاره د چټکې ورکړې په موخه د افغانستان بانک په نمایندګیو کې د پیسو د سیالیت (نقدینه ګۍ) لپاره د (NSP) پروګرام د انتقالي پیسو د جدول ترتیبول او د نشر او مراقبت معاونیت ته د هغه لیږدول.
- په مرکز او ولایتونو کې اړوندو حسابونو ته د بیا ګرځیدنې(Reversal) او اصلاحي (Correction) ۱۰۰ قطعو معاملو تعقیبول او څېړل او د نویو بانکي سیستمونو په کارولو سره اړونده معاملو ته لاسرسي.
- د اړونده مراجعو څخه راستول شویو ۲،۰۰۰ ایمیلونو ته ځواب ورکول او د ایمیل له لارې له بیلابېلو حسابونو څخه د هرې ورځې د صورت حسابونو لیږدول.
- د ملي پیوستون د پروګرام د غوښتنې او نورو اړونده موضوعاتو په بنسټ د حسابونو د پرانېستلو په برخه کې همکاري او همغږي او د افغانستان بانک له نمایندګیو سره د (NSP) ستونزو ته لاسرسي او برعکس.

# اداره او پراختیا



# اداره او پراختیا

د افغانستان بانک د قانون په بنسټ، دافغانستان بانک عمده موخه د کورنیو بیو د ثبات تأمینول او ساتل دي. د افغانستان بانک نورې موخې چې د هغې د لومړنی موخې تابع دي، له سیالیت (نقدینه ګی)، د پورونو د ورکړې له قابلیت، د بازار پر اقتصاد ولاړ ثابت مالي سیستم له اغېزناکه فعالیت څخه ملاتړ او د ورکړې د خوندي، سالم او اغېزمن ملي سیستم پیاوړتیا څخه عبارت دي. په همدې ډول د افغانستان بانک، د افغانستان د پولي سیاست طرح کول، تر لاس لاندې نیول او اجراء کول، د افغانستان د بهرنیو اسعارو د ارزي سیاست او ترتیباتو طرح کول، ترلاس لاندې نیول او اجراء کول، د افغانستان د بهرنیو اسعارو د رسمي زېرمو ساتنه او اداره کول، د افغانستان د کاغذي پیسو او فلزي مسکوکاتو چاپول، ضربول او خپرول، د د دولت بانک لرونکي(بانکدار)، سلاکار او د مالي استازي په توګه د دندو سرته رسول، د جواز صادرول یا ثبتول، تنظیم او پر بانکونو، د اسعارو پر صرافانو، د پولي خدمتونو پر وړاندې کوونکو، د ورکړې د سیستم پر مجریانو، د بیه لرونکو سندونو د خدمتونو پر وړاندې کوونکو، د بیه لرونکو سندونو د لیږدونې د سیستم پر مجریانو او نورو هغو اشخاصو باندې څارنه چې د افغانستان بانک کولای شي د قانون د حکمونو مطابق د هغوی څارنه وکړي؛ د بیه لرونکو سندونو د ورکړې او لیږد په موخه د اغېزمن او سالم سیستم جوړول، ساتل او وده چې د دولت یا د افغانستان بانک لخوا صادر شوي وي او د ورکړ ایزو (پرداختي) معاملو او هغو معاملو د حساب تصفیه او تسویه چې دغه ډول بیه لرونکو سندونو کې صورت نیسي، په غاړه لري. د پورته اهدافو او دندو د لا ښه ترسره کولو په موخه د افغانستان بانک هڅه کړې ده څو یو پیاوړې اداره منځ ته راولي چې د اوسني عصر د اړتیاوو ځواب ورکوونکي وي او د پام وړ پراختیا په پام کې نیولو سره د پولي سیاست، مالي نظام او تادیاتي سیستم ابزارونو، په لاندې پرمختګونو او د افغانستان بانک موخو ته د رسیدو په برخه کې ښه رول ولوبوي.

د افغانستان بانک د خپلو اهدافو د اغېزناکه تحقق او د ټولیزو دندو د اجراء کولو په موخه، د خپلو تشکیلاتو په اډانه کې حمایوي ادارې تأسیس کړې دي چې په ۱۳۹۲ کال کې د دې ادارو لاسته راوړنې او کړنې دلته په لنډه توګه وړاندې کیږي:

### د ټولو ناظر اداره


د افغانستان بانک د قانون سره سم د ټولو ناظر اداره د افغانستان بانک د شعبو د ادارې او فعالیتونو د دوامدارې څېړنې مسؤلیت په غاړه لري. له همدې امله د افغانستان بانک د قوانینو او مقرراتو پر رعایتولو باندې څارنې او همدا ډول د افغانستان بانک د عالي شورا او عامل پلاوي د تصمیمونو رغنده اجراء او پلي کیدو لپاره، اړتیا ده څو د افغانستان بانک ټولې ساحې او شعبې په منظمه او خپلواکه توګه له کلني پلان سره سم وڅېړل شي او سربېره پر مشورو له اصلاحي سپارښتونو سره د افغانستان بانک د حسابونو، ریکارډونو په هکله د څېړنې راپور عالي شورا او د داخلي څېړنو کمیټې ته وړاندې شي څو په دې برخه کې لازم اقدامات ونیول شي.


د ټولو ناظر اداره د ۱۳۹۲ کال له کاري پلان سره سم د افغانستان بانک ټولې شعبې، ښاري څانګې او نمایندګی د خطر پر اساس وارزولې او په درې درجو (لوړ، منځنی او ټیټ) یې ووېشلې. د څېړنې شپږو ټیمونو او د کیفیت د تضمین یو ټیم ته دنده وسپارل شوه چې د ۱۳۹۲ کال په اوږدو

کې د افغانستان بانک ټولې شعبې او نمایندګۍ وڅېړي او د هغوي له اجرااتو څخه دافغانستان بانک د داخلي څېړنې کمېټې او عامل پلاوي ته راپور ورکړي.

د څېړنو لاندې ۷۴ شعبو له ډلې ( د مرکزي شعبو، د ولایتونو د نمایندګیو او ښاري څانګو) څخه ۴۴ ساحې بشپړې او شپږ ساحې تر کار لاندې دي. د یادونې وړ ده چې د څېړل شویو ساحو له ډلې څخه ۲۳ ساحې د څېړنې د ټیمونو د اصلاحي سپارښتنو له پلي کیدو څخه ډاډمنتیا لپاره هم تعقیب شوي دي. یو شمېر نمایندګیو ته د امنیتي وضعیت له امله تګ او راتګ ستونزمن دی.

۲۶ او ۲۷ ګراف د ټولو ناظر اداري کاري اجراات او کړنې ښکاره کوي.




د ټولو ناظر اداري په ښه توګه د کلني کاري پلان د پلي کیدو او په لارښودنو او د افغانستان بانک په نافذو قوانینو کې دمخه ټاکل شویو اهدافو ته د رسیدو په موخه، د ۱۳۹۲ کال په ورستۍ ربع کې د ټولو ناظر اداري د تشکیلاتي جوړښت د کاري حجم او د اوسنیو اړتیاوو له مخې ۵ ټیمونه ۹ ټیمونو او په ټولیزه توګه ۳۵ بستونه ۴۵بستونو ته لوړ کړي دي څو له یوې خوا د دې اداري شته ستونزو او ننګونو ته د حل لاره پیدا شي او له بلې خوا له احتمالي خطرونو څخه د امکان تر بریده مخنیوی وشي.

## د اسنادو او اړیکو لوی آمریت

د اسنادو او اړیکو لوی آمریت د ثانوي او اداري دندو د اجراء کولو تر څنګ، د مرکزي بانک د اړیکو اصلي مسؤول دی چې د دوو مدیریتونو، خپرونو او اړیکو په اډانه کې او په بشپړه همغږۍ سره پر مخ وړل کیږي.

دلته د اسنادو او اړیکو د لوی آمریت د خپرونو، اړیکو، ژباړې، اسناد او آرشیف او پروتوکول په برخو کې د ۱۳۹۲ کال کړنې په لنډه توګه وړاندې کوو:

### خپرونې:

د اسنادو او اړیکو د لوی آمریت د خپرونو مدیریت د افغانستان بانک د خپرونکي او خبر رسوونکي مرجع په توګه تل هڅه کړې ده څو د بانک کنفرانسونه، ورکشاپونه، سیمینارونه او نورې غونډې د بانک د میاشتنۍ خپرونې له لارې تر پوښښ لاندې ونیسي. دا مدیریت توانیدلی دی چې د افغانستان بانک لاسته راوړنې او کړنې په بیلابیلو برخو لکه؛ پولي سیاست، مالي نظام، تادیاتي، عملیاتي او اداري سیستم کې د میاشتنۍ خپرونې او کلني راپور له لارې د خلکو، رسنیو، خصوصي سکتور، حکومت، ملي شورا او اکاډمیکي ټولنې د پوهاوي لپاره خپرې کړي. د پورته نشراتي چارو تر څنګ، د خپرونو مدیریت هڅه کړې ده څو د جزوو او انځوریزو رسالو د چمتو کولو، د افغانۍ د ترویجو په شمول په

بیلابیلو برخو کې د انځوریزو کلیپونو او پوسترونو د برابرولو او ترتیبولو له لارې عامه ذهنونه روښانه کړي.

د پولي سیاست د تطبیق او د مالي نظام د پیاوړتیا په برخه کې د نشراتي کار د ارزښت په پام کې نیولو سره د دې برخې کړنې د ۱۳۹۲ کال په ترځ کې په لنډه توګه تشریح کوو:

- د ۱۳۹۱ له مرغومې څخه د ۱۳۹۲ تر مرغومې پورې د دولسو ګڼو مجلو ″ بانک″ خپرول چې په هغه کې په پښتو او دري ژبو شاوخوا ۲۰۰ اقتصادي مقالې او د افغانستان بانک د لاسته راوړنو او کړنو راپورونه او نورې اقتصادي مقالې خپرې شوي دي.
- د هېواد په دوه ملي ژبو د افغانستان بانک د ۱۳۹۱ کلني راپور چمتو کول چې د پولي سیاست( د پرسوب نرخ، نقدینه ګی، د اقتصادي ودې نرخ، د اسعارو د نرخ څرنګوالی او ...) د بازار عملیات ( د اسعارو لیلام، د بیه لرونکو پاڼو لیلام، لیټراف کریډېټونه او ...) بانکي نظام ( د بانکي نظام شتمنی، د بانکي نظام پورونه، د بانکي نظام امانات او د بانکي نظام سیالیت) د تادیاتو سیستم( د بانکونو ترمنځ تادیات، نړیوال تادیات، تسویه او تصفیه او ...) او د نورو برخو کړنې رانغاړي.
- د افغانۍ د دودیدو او د افغانۍ بانکنوټونو د خوندي ساتلو په موخه د تبلیغاتي وسیلې په توګه د دیوالي او سرمیزي کلیزې چمتو کول.
- د کنفرانسونو، د عامل پلاوي د مرکو، قراردادونو، ورکشاپونو، په مرکز او اووه ګونو زونونو کې د زړو بانکنوټونو د حریق او د ولایتونو د نمایندګیو د پرانیستونکو غونډو ویډیویي ثبت او آرشیف کول چې په ټولیزه توګه ۴۰ مواردو ته رسیږي.
- د نیمروز دفبانک نمایندګی ته د هېواد په ملي ژبو د افغانۍ د ترویج په برخه کې د دوو کلیپونو چمتو کول او د هغه ولایت په محلي شبکو کې د هغه خپرول.
- د افغانۍ د دودیدو په برخه کې په پښتو او دري ژبو د ۶ دقیقه یي مستند فلم جوړول او د انځوریزو رسنیو له لارې د هغه خپرول.
- په دریو پښتو، دري او انګلیسي ژبو د افغانستان د اسلامي جمهوریت جمهور رئیس جلالتماب حامد کرزي او د دولت نورو لوړ پوړو چارواکو ته د ورکړل شویو ډالیو د انځوریزې رسالې د لومړي او دویم چاپ چمتو کول.
- د بانک د مجلې د دولسو ګڼو د کلکسیون ترتیبول او د اسنادو او اړیکو د لوی مدیریت په آرشیف برخه کې د هغه ساتل.
- د مرکزي دفتر دننه، د ولایتونو په نمایندګیو، ملي شورا، د چارو ادارې، وزارتونو، دولتي خپلواکو ادارو، پوهنتونونو او د خصوصي سکتور په ادارو کې د ۱۳۹۱ کلني راپور، د ″بانک″ د دولسو ګڼو مجلو، د ډالیو د رسالو، د افغانستان بانک د تاریخچې او موخو د جزوو، د افغانستان بانک د پنځه استراتیژیک اصلو او محوري ارزښتونو د بروشور او د افغانستان بانک د کلیزو وېشل.
- د همدې کال د نشراتي موادو آرشیفول لکه: کلنی راپور، د مجلې دولس ګڼې، د پیسو د دودیدو او خوندي ساتلو اعلانونه، جمهور رئیس ته د ورکړل شویو ډالیو د انځوریزې رسالې، د افغانستان بانک د تاریخچې جزوه، د عامل پلاوي د مرکو فلمونه، په

کنفرانسونو، ورکشاپونو او سیمینارونو کې ثبت شوي فلمونه.

**اړیکې (ارتباطات):**

د اسنادو او اړیکو لوی آمریت د افغانستان بانک د خپلواکۍ په پام کې نیولو سره تل هڅه کړې ده څو د چټکو او دقیقو اړیکو له لارې د افغانستان بانک عمومي موخې، دندې، سیاستونه او کړنې عامه پوهاوي ته ورسوي. په همدې موخه د دې آمریت د اړیکو مدیریت په ۱۳۹۲ کال کې لاندې دندې ترسره کړې دي:

- د رسنیو له لارې د افغانۍ د دودیدو په برخه کې د ۷ انځوریزو اعلانونو خپرول.
- له شاوخوا ۲۰ چاپي ورځپاڼو او بیلابیلو وب پاڼو د اقتصادي خبرونو او مقالو مانیټورینګ او لویو آمریتونو ته د هغه لیږدول.
- په ملي او انګلیسي ژبو د ۲۹ خبرپاڼو جوړول او په بهرني ویب پاڼه کې د هغه خپرول.
- د ۱۵ کنفرانسونو، ۳ ورکشاپونو او د بانکونو له رئیسانو سره د لوی رئیس د ۲ غونډو جوړول او د۵۰ انځوریزو، غږیزو او چاپي رسنیو رابلل.
- د info د رسمي ایمیل له لارې د ۲۳۰ ایمیلونو ترلاسه کول او د افغانستان بانک د آمریتونو له همکارۍ وروسته ۱۲۰ ایمیلونو ته ځواب ورکول.
- هره ورځ د هېواد رسنیو ته د ایمیل له لارې د اسعارو د نرخ لیږدول.
- د ایمیل له لارې وزارتونو، خپلواکو دولتي ادارو، خصوصي سکتورونو، اکاډمیکي ټولنې او رسنیو ته د مجلې، کلني راپور او نورو نشراتي موادو لیږدول.
- د افغانستان بانک مشر تابه پلاوي لخوا وزارتونو، خپلواکو ادارو، رسنیو او نورو مراجعو ته د نوي کال، د هېواد د خپلواکۍ، د کوچني اختر، لوی اختر او د ښځو د نړیوالې ورځې په مناسبت د مبارکۍ د پیغامونو لیږل.

**ژباړه:**

د اسنادو او اړیکو لوی آمریت دې لپاره چې د افغانستان بانک موخې، سیاستونه، دندې، لاسته راوړنې او کړنې یې عامه خلکو او نړیوالو اقتصادي ادارو ته رسولي وي، هڅه کړې ده څو تبلیغاتي مواد، پالیسۍ، مقررې او قراردادونه په ملي ژبو او انګلیسي ژبه وژباړي.

په دې موخه د دې آمریت د ژباړې برخې په ۱۳۹۲ کال کې لاندې مواد ژباړلي دي:

۱. د ۱۳۹۱ کلني راپور او ملي شورا ته د افغانستان بانک د اته میاشتني راپور ژباړه

۲. د ۱۳۹۲ مالي کال په اوږدو کې د افغانستان بانک د کړنو د لنډ راپور او د پولي سیاست د راتلونکي مالي کال د پلان ژباړه.

۳. د بازار عملیات اړوند د سرو زرو او نړیوالو زېرمو د مدیریت او پانګونې د پالیسۍ ژباړه

۴. د بشري منابعو د لوی آمریت اړوند د محصلینو د پرکټیکې دورې د پالیسۍ د مسودې ژباړه.

۵. د بشري منابع د لوی آمریت اړوند د کارکوونکو د رخصتۍ د مقررې ژباړه

۶. د بشري منابع، معلوماتي تکنالوژۍ د آمریتونو او د عامه اعتباراتو د ثبت مدیریت د دندو د ۳۰ لایحو ژباړه.

۷. د بانک او نورو شرکتونو ترمنځ د ۶ تړون لیکونو ژباړه

۸. د داخلي وب پاڼې د مطالبو او مضامینو ژباړه

۹. د شاوخوا ۳۵ خبرپاڼو ژباړه

۱۰. په پښتو او انګلیسي ژبو ولسمشر او د دولت نورو لوړ پوړو چارواکو ته د ورکړل شویو ډالیو د رسالې ژباړه.

۱۱. د افغانستان بانک میاشتنۍ مجلې لپاره شاوخوا د ۴۰ مقالو او راپورونو ژباړه

۱۲. له ۵۰ څخه تر ۶۰ مکتوبونو، وړاندیزونو، فرمانونو، خبرتیاوو، د مبارکۍ د پیغامونو، بروشور، بوک لیت، د ویناوو متن، بلنلیکونو، تړون لیکونو، پریکړه لیکونو، د بشري منابع د متقاعدینو د فورمونو او د بانک او د بانک د خپرونو اړوند نورو اسنادو ژباړه.

**سندونه:**

د اسنادو او اړیکو د لوی آمریت له دوندو څخه یو هم د مرکزي بانک د سندونو په برخه کې د ورسپارل شویو دندو پرمخ وړل دي. د افغانستان بانک د سندونو او آرشیف مدیریت د لیکنې، انسجام، څېړلو او د افغانستان بانک د ټولو سندونو (که له بانک څخه بهر وړل کیږي او که د بانک په دننه کې کارول کیږي) د ساتلو او آرشیف د کانون او مرکز په توګه عمل کوي چې دا مرکز د چټکتیا او روڼتیا ترڅنګ باید له نهایت محرمیت څخه برخمن وي.

مستند جوړونه که چېرې له یوې خوا د یوې ادارې د کړنو په روښوالي او وضاحت کې د پام وړ رول لري، له بلې خوا د پېښو په ترتیب، دوام او دوامداره ساتلو او د هغه په هکله قضاوت کې هم مهم رول لوبوي. له اسنادو پرته، ستونزمنه ده چې د سوابقو په پام کې نیولو سره د یو ادارې د پېښو او واقعو د حل لپاره په اغېزناکه توګه اقدام وکړای شوو.

د سندونو د ارزښت او د هغه د طي مراحلو د څرنګوالي په پام کې نیولو سره، په ۱۳۹۲ کال کې د سندونو او ارشیف د مدیریت کړنې په لاندې ډول وړاندې کیږي:

- له بانک څخه بهر د ۱۸۴۴۳۹ قطعو مکتوبونو او اویزونو صادرول او لیږل
- له ۱۹۲۹۸ قطعو مکتوبونو څخه زیاته وارده
- د افغانستان بانک د عامل پلاوي د ۲۸۶ قطعو تصویبونو ثبتول او لیږل
- د عامل پلاوي د یوه غړي له حکم وروسته د ۲۱۷۵ وړاندیزونو ثبتول.
- د بانک د کارکوونکو او مراجعینو د ۲۴۱۸ عریضو ثبتول
- د وزیرانو د شورا، د چارو د ادارې د ۳۴۶ موردو مصوبو، تصویبونو او حکمونو تعقیبول چې په خپل وخت سره د دندو په ترسره کولو کې یې د پام وړ رول درلودلی دی.

د پورته کړنو په څنګ کې د سندونو او ارشیف مدیریت په ۱۳۹۲ کال کې د تیرو شلو کلونو سندونه راټول کړي او د ارشیف د دفتر په الماریو کې یې ځای پر ځای کړي دي.

په همدې ترتیب د سندونو په کړنلارې هم کار شوی چې اوس مهال د عامل پلاوي تر مطالعې لاندې دی.

**پروتوکول:**

له هغه ځایه چې په نړیوالو ادارو کې د افغانستان بانک د هېواد مرکزي بانک او د دولت مالي استازی دی، نو اړتیا لیدل کیږي چې د افغانستان بانک مشرتابه پلاوی د سیمې او نړۍ په هغو غونډو کې چې د پولي سیاست، مالي نظام، تادیاتي سیستمونو، د پیسو د وینځلو او د تروریزم د تمویل د مخنیوی

پر وړاندې د مبارزې او نورو اقتصادي او سوداګریزو مسائلو په برخو کې جوړېږي، ګډون وکړي.

په همدې ترتیب د پولي سیاست، مالي نظام، تادیاتي او عملیاتي سیستم په برخو کې د پوهې او مهارت د لوړولو په پام کې نیولو سره، اړتیا ده څو د افغانستان بانک کارکوونکي له نورو مرکزي بانکونو او اقتصادي ادارو سره د دوه اړخیزو تړون لیکونو په اړوند کې د ظرفیت د لا لوړولو په موخه له هېواد څخه بهر زده کړه وکړي.

د پورته دوو برخو سربېره، د افغانستان بانک د هېواد د مالي نظام د نبض په نبضه څارنې مسؤولیت په غاړه لري او هڅه کوي څو د بانکي اجرااتو په موخه د هېواد بانکونو لپاره لازمه اسانتیاوې برابرې کړي چې د بانکونو د بهرنیو کارکوونکو د ویزو طی مراحل، د همدې اسانتیاوو یوه برخه جوړوي.

د پروتوکول مدیریت د پورته ټکو په پام کې نیولو سره، مسوولیت لري څو د افغانستان بانک د عالي شورا غړو، عامل پلاوي او نورو کارکوونکو لپاره د پاسپورټ او ویزې د ترلاسه کولو او نورو تشریفاتي مسایلو په برخه کې اسانتیاوې برابرې کړي.

د دې تر څنګ د خصوصي بانکونو لویو کارکوونکو لپاره د ویزې د اجراء کولو د لازمه اسانتیاوو لپاره هم هڅه کوي.

دلته په لنډه توګه په ۱۳۹۲ کال کې د دې مدیریت تر ټولو مهمې کړنې وړاندې کیږي:

- ۴۹ جلده د خدمت او ۵ جلده د سیاحت نوي پاسپورټونه د افغانستان بانک کارکوونکو لپاره اخیستل.
- د افغانستان بانک کارکوونکو د رسمي سفرونو لپاره ۱۹۴ ویزې ترلاسه کول.
- د بانکونو بهرنیو کارکوونکو لپاره ۱۹۷ ملټيپل او د دخول ویزې ترلاسه کول
- د چارو اداري ته د ۲۶ قطعو وړاندیزونو لیکل، لیږل او تعقیبول.
- د چارو له اداري سره د دوامدارو اړیکو ساتل
- د افغانستان بانک د عالي شورا او د عامل پلاوي د غړو ښه راغلاست او بدرګه کول.

## حقوقي مشاوریت

د افغانستان بانک د حقوقي مشاوریت دفتر د چارو د لا ښه والي او مطلوبو اجرااتو په موخه د ۱۳۹۲ مالي کال په اوږدو کې لاندې فعالیتونه ترسره کړي دي:

- د مالي اجارې د قانون توشیح چې په رسمي جریده کې خپور شوی
- د افغانستان بانک په قانون کې د تعدیلاتو د طرحې ترتیبول او د راتلونکو چارو د ترسره کولو په موخه یې د عدلیې وزارت تقنیني ریاست ته وړاندې کول.
- د بانکدارۍ په دوديزه قانون او اسلامي بانکدارۍ قانون څخه مرکب په دوو رسمي ژبو د بانکدارۍ په قانون کې د یو لړ تعدیلات راوستل او د تصویب په موخه یې ولسي جرګې ته لیږل.
- له اوسنیو او عصري سیستمونو سره سم په بانکي معاملو کې د منقولو اموالو د رهن په قانون او په بانکي معاملو کې د غیر منقولو اموالو د رهن په قانون کې د تعدیلاتو وضع کول تر کار لاندې دي.
- د پیسو د وینځلو او له جرمونو څخه د ترلاسه شوي عوایدو پر وړاندې د مبارزې قانون او د تروریزم د تمویل پر وړاندې د مبارزې قانون د راتلونکو پړاونو د اجراء کولو په موخه د عدلیې وزارت ته لیږل.

- د افغانستان بانک د کارکوونکو د ملاتړ د مقررې د طرحې چمتو کول او ترتیبول.
- د ځینو مقررو، پالیسیو او داخلي پروسیجرونو طرح او تعدیلول او د تصویب په موخه د افغانستان بانک عالي شورا ته د هغه لیږدول. په ۱۳۹۲ کال کې د افغانستان بانک ۶ داخلي مقررې او پالیسی له تصویب وروسته تر اجرااتو لاندې نیول شوي.
- د حقوقي مشاوریت د ۱۳۹۲ کال کاري پلان شاوخوا ۷۵-۷۰ سلنه پلي شوی دی. پاتې سلنه یې اړونده دولتي ادارو همکارۍ ته اړتیا لري چې په ۱۳۹۳ کال کې به بشپړ شي.

## معلوماتي تکنالوژي:

د معلوماتي تکنالوژۍ لوی مدیریت د افغانستان بانک له مهمو برخو څخه دی چې د ټولو اسانتیاوو د برابرولو په برخه کې او د ورځې د تکنالوژۍ له لارې د افغانستان بانک په کاري چارو کې د ښه والي او د لا اغیزناکی په موخه د معلوماتي تکنالوژۍ د ابزار له لارې د برخو په اتوماتولو کې مهم او حیاتي رول لوبوي چې په عملیاتي او تخنیکي برخو کې یې لاندې کارونه ترسره کړي دي.

**عملیاتي برخه:**

- په اتومات ډول د انټي وایروس د نوي کولو لپاره د سرور روم نصبول
- د کارکوونکو د سیستمونو د ستونزو حل لپاره د اړینو پوستکالو برابرول.
- په ۷ وینډوز باندې د اکس پي وینډوز بدلول
- د ورځې په نویو او عصري سیستمونو باندې د مخکنیو سیستمونو بدلول
- د فوتو کاپي ماشینونو، اسکنر او د معلوماتي تکنالوژۍ د نورو وسایلو برابرول او د شعبو له اړتیاوو سره سم د هغه فعالول
- له یو ترمیماتي شرکت سره د تړون لاسلیکول او د بانک په داخل کې د ترمیم د شرایطو برابرول چې د وخت له ضایع کیدو، د تلو او راتلو له لګښت او داسې نورو لګښتونو څخه مخنیوی کوي او همدا ډول له هغه قراردادي شرکتونو سره اړیکې ساتل چې د معلوماتي تکنالوژۍ توکي ترې پیرودل شوي او د پیرودلو د مسایلو تعقیبول.

**ویب پاڼه**

دا برخه هم د معلوماتي تکنالوژۍ د لوی مدیریت یو له بنسټیزو برخو څخه ده چې د ټولو ډیټابیسونو او اپلیکیشنونو د ساتلو او جوړولو مسوولیت په غاړه لري. دې برخې د ډیټابیسونو، ویب پاڼو او نورو اړینو پوستکالو په ډیزاینولو کې لاندې لاسته راوړنې درلودلې دي:

- د Windows Server ۲۰۰۳ له نسخې څخه ۲۰۱۲ Windows Server ته د ICBS د ډیټابیس د سرور او هغه د عامل سیستم Operating system لوړول.
- له ۲۰۰۵ نسخې څخه ۲۰۱۲ Enterprise ته د SQL Server لوړول چې I.C.B.S ډیټابیسونو د خوندي ساتلو لپاره یې مهمې اسانتیاوې لکه لا ډېره لاسرسي، مقیاس منل او کړنه، امنیت، انعکاس، د معلوماتو انبار او داسې نورې اسانتیاوې برابرې کړې دي.
- د SQL Server نوې نسخې ته د ICBS د ډیټابیسونو او د هغه د ضمیموي Modules موډلونو لکه PayrollT- Treasury FAMS & Vault لیږدول.
- SQL Server ته د Mysql له ډیټابیس څخه چې مخکې د ګمرک له ښاري سیستمونو څخه په یو کې نصب او ترې کار اخیستل کیده، د ساکت Dormant د حسابونو لیږدول چې اوس مهال د مرکز په ډیټا سنټر کې نصب او مالي آمریت ترې ګټه پورته کوي.

- د شته توکو د خوندي ساتلو او د سخت افزار د ورځني چارو د ښه والي لپاره د پوستکالي د ودې او پراختيا له ټيم سره د PHP پروګرام ليکلو د ژبې او د MYSQL ډيټابيس په کارولو سره د ډيټابيس جوړول.
- نوې نسخې ته د SQL Server په لوړيدو سره له افاتو څخه د خونديتوب په سايټونو کې د icbs ډيټابيسونو د Mirrori & Replication د انعکاس انتخاب د فعالولو په برخه کې او د دې ترڅنګ د بانکي عملياتو په ورځني چارو کې ډېرې اسانتياوې رامنځ ته شوي چې اوس مهال له افتونو څخه د خونديتوب يو سايټ د مخابراتو او معلوماتي تکنالوژۍ په وزارت کې فعال دی.
- له ۲.۳ څخه ۲.۵ ورژن ته د Cbs Application د ورژن لوړول.
- د افغانستان بانک ته د ګمرکونو د دفترونو د عوايدوورکولو لپاره د ACSS سيستم فعالول او ترتيبول او په ACSS سيستم کې د افغانستان بانک ته د Bulk Upload چکونو د ورکولو په موخه د ماليې وزارت د خزاينو رياست ته د Option ترتيبول.

**د ډومين او د SWIFT د سيستم برخه**

دا برخه د Addional domain د سرورنو د خوندي ساتلو مسووليت په غاړه لري، د يادونې وړ ده چې دغه برخه د افغانستان بانک د کمپيوټرونو د موجوده Swift او Domain Controler ټول يوزرونه په ډومين کنټرولر کې جوړوي او په دې برخه کې د دوی ټولې ورځنۍ ستونزې له منځه وړي. همدا ډول دا برخه دنده لري څو ورځنۍ ستونزې د سويفټ په سيستم کې حل کړي او د هغه په ټولو تخنيکي چارو کې ونډه واخلي.

دې برخې د مرکزي دفتر ټول کمپيوټرونه تر يو ډومين لاندې راوستي څو بشپړ خونديتوب ولري او په اسانۍ سره يې ستونزې حل شي.

د سيستم د برخې د مرکزي دفتر ټولو کارکوونکو لپاره د افغانستان بانک د sswordüser/p ډومين چمتو کړی چې ټول ګټه اخيستونکي له همدې لارې په سيستم کې دننه کيدای شي. د دې برخې له دندو څخه يو هم د Internet Filering د سيستم نصب او عملي کول دي څو غير اړينې، نا خوندي او داسې نورې ويب پاڼې فلتر کړي.

- ۲۰۰۸ ورژن ته د سويفټ سيستم د بکاپ سرور System Operating بدلول، ځکه چې مخکنی ورژن د سويفټ له نوي سيستم سره توپير درلوده او بايد لومړی په نوي Operating System تبديل شوی وای چې دا کار د دې برخې په هلو ځلو په برياليتوب سره ترسره شوی دی.
- د سويفټ سيستم په بکاپ سرور کې د ۷.۰ Swift Alliance Entry نصبول او د سويفټ سيستم نوي بکاپ سرور ته له اصلي سرور څخه د ارشيف شويو پيغامونو Restore کول.
- د بکاپ سرورونو په اصلي سرورونو کې د ۷.۰.۷۰ Patch نصبول او همدا ډول د سويفټ د برخې په Wrkstation کې د هغه نصبول څو په اسانۍ سره د سويفټ سيستم له اصلي سرور سره ونښلول شي.
- د ترتيب شوي مهال وېش له مخې په ورځني ډول د سويفټ سيستم په اصلي سرور کې د بکاپ اتومات فعالول.
- د سويفټ سيستم په دواړو سرورونو کې د Web Plateform نصبول.

**د معلوماتو د ساتلو برخه**

د معلوماتو د ساتلو برخه د معلوماتي تکنالوژۍ د لوی مديريت يو بله برخه ده. البته د دې برخې دندې د معلوماتي تکنالوژۍ

د ټولو زیانمنیدونکو سیستمونو ارزونه، د هکرونو له خطرونو څخه د مانیتور د سیستم څېړنه، د شبکې او سرورونو د امنیت د ښه والي په برخه کې وړاندیزونه، د نوې ټکنالوژۍ په برخه کې څېړنه او د نوي او زیانمنیدونکو هکرونو په هکله معلومات، د دې مدیریت برخو ته د حفاظتي پالیسیو جوړول او له سیستم او انټرنټ څخه د ښې ګټې اخیستنې په موخه د افغانستان بانک ټولو کارکوونکو ته د عمومي پالیسۍ جوړول، د افغانستان بانک د مرکز او د نمایندګیو کارکوونکو ته د حفاظتي او تخنیکي روزونو برابرول، له سیستم او شبکې څخه د ساتنې په موخه د افغانستان بانک د زونونو د نمایندګیو عمومي سروې، د حفاظتي سیستمونو نصبول، د سیستم او د ورځې د ټکنالوژۍ د جوړولو په موخه وړاندیزونه دي.

د افغانستان بانک د رسمي ویب پاڼو، د افغانستان بانک د رسمي ویب سرورونه او ایمیلونو مانیټورینګ په هغه صورت کې چې ستونزه یې درلودلي وي، د دې برخې له دندو څخه دي.

## بشري منابع

د حمایوي او مناسب کاري چاپیریال په پام کې نیولو سره د جلب او جذب، خوندیتوب، هڅونې، پرمختګ، د وړ او مناسبو اشخاصو د ودې په موخه د باکیفیته خدمتونو وړاندې کول د دې آمریت له مهمو دندو څخه دي.

په کاري چارو کې د اسانتیا د برابرولو په موخه، د بشري منابع د الکترونیکي سیستم پیریدول او د دې سیستم د اړوندو چارو ترسره کول د دې آمریت له لومړیتوبونو څخه دي چې ډېر ژر به د بشري منابع په ټولو ساحو کې پلې شي.

د هېواد د نافذه قوانینو او د افغانستان بانک د قانون په پام کې نیولو سره د بشري منابع پالیسۍ، مقررې او لارښودونې په مسلکي، علمي او تخصصي توګه ترتیب شوي دي چې په لاندې ډول دي:

- د کارکوونکو د حقوقو او امتیازونو لایحه او کړنلاره
- د اصلاحي او انضباطي اقداماتو پالیسي او کړنلاره
- د محصلینو د پرکټیکي دورې پالیسي
- د بشري منابع د داخلي اړیکو، بدلونونو او تبدیلونو پالیسي
- د کارکوونکو د رضایت د سروې فورم
- د کارکوونکو د اصولو او د سلوک د څرنګوالي ژمن لیک
- د بشري منابع د پالیسیو او مقررو د مسودو د ترتیب د څرنګوالي سند

همدا ډول په ځینو بنسټ لیکونو او ژمن لیکونو باندې کار روان دی چې په لاندې ډول دي:

- د کارکوونکو د مکافاتو لایحه او کړنلاره
- د کار د وخت، د استراحت د حق او رخصتیو مقرره
- د ګمارنې د پروسې د مرکې لارښود
- د جلسو لارښود
- د بشري منابع د پالیسیو، اصولو او مقرراتو پرتطبیق د کمیټې بنسټ لیک

همدا ډول هغه شمېر مخکنۍ پالیسۍ چې د اداني، مسلک، تخصص او د هېواد د نافذه قوانینو او د افغانستان بانک د قانون له پلوه یې تخنیکي ستونزې درلودې، بیا کتل شوي چې په لاندې ډول دي:

- د کړنو د ارزونې پالیسي
- د ګمارنې پالیسي
- د مصالحې او نارضایتۍ پالیسي

د ۱۳۹۱ کال د ارزونې پروسه په بریالیتوب سره تطبیق شوې او د ۱۳۹۲ کال د ارزونې پروسه په جریان کې ده او ډېر ژر به بشپړه شي.

د وړ او مناسبو اشخاصو د جلب او جذب په موخه، د روزنیزو پروګرامونو برابرول او د کارکوونکو وده، د حقوقو، امتیازونو، مکافاتو د بشري منابع د پلان جوړونې پیژندل او ټاکل یو جدي اړتیا وه چې دې موخو ته د رسیدو لپاره، د پُستونو څېړل او بررسي کول یو حتمي کار ګڼل شوی او له نېکه مرغه دا لړۍ په بریالیتوب سره ترسره شوې.

د ځانګړو اهدافو د ترلاسه کولو په موخه، د کارکوونکو د دندو د لایحې د بشپړیدو لړۍ په لار واچول شوې چې ډېر ژر به بشپړه شي.

د بشري منابع دندې او کاري کړنلارې ترتیب شوي چې د افغانستان بانک د عامل پلاوي د لارښودنې وروسته به د ټاکل شویو اهدافو د ترلاسه کولو په موخه په لومړي قدم کې په ساده ډول او په دویم قدم کې به په ډېر تخنیکي ډول برابر او ترتیب شي.

د کارکوونکو د رضایت د سروې پروسه هم په لار اچول شوې چې د هغه بنسټیزه موخه د ذکر شوي فورم له درج شویو ټکو لکه؛ د افغانستان بانک اړیکې او پلان جوړونه، په د افغانستان بانک کې د کارکوونکو رول، د ادارې کلتور، له صلاحیت لرونکو آمرینو او مستقیم مدیرانو سره د کارکوونکو اړیکې، روزنیز پروګرامونه، حقوق، امتیازونه، مجازات او په کاري چارو او اجرااتو کې د ښه والي په موخه له کاري چاپیریال څخه د کارکوونکو د رضایت د کچې له ځانګړي کولو څخه عبارت دي چې یاده لړۍ هم په بریالیتوب سره بشپړه شوې ده.

د کار له امله د کارکوونکو د شکایتونو د ترلاسه کولو په موخه په ځانګړو سایټونو کې د شکایتونو د صندوقونو د نصبولو ترڅنګ د کارکوونکو ترلاسه شوي شکایتونه د اړوند کمېسیون لخوا څېړل شوي او لازم اقدامات یې په اړه ترسره شوي.

په ۱۳۹۲ کال کې د مرکز او د ولایتونو د نمایندګیو کارکوونکو لپاره روزنیزې لاسته راوړنې:

په ۵۲ خصوصي پروګرامونو کې ۷۸۹ تنو کارکوونکو او په همدې ترتیب یو شمېر پخوانیو کارکوونکو او نوي مقرر شویو کارکوونکو لپاره په مرکز او اووه ګونو زونونو کې د افغانستان بانک د پیژندنې ترڅنګ د بیلا بېلو پرمختللو روزنیزو پروګرامونو جوړول چې په دې برخه کې لاندې فعالیتونه ترسره شوي دي:

- د افغانستان په امریکایي پوهنتون کې د لیسانس پروګرام لپاره د افغانستان بانک د ۷ تنو کارکوونکو ورپیژندل
- د افغانستان په امریکایي پوهنتون کې په اکاډمیک ډول یو تن کارکوونکي ته د انګلیسي ژبې روزنیز پروګرام
- په پیشګام پوهنتون کې ۱۷ تنه کارکوونکو لپاره د لیسانس پروګرام
- د افغانستان په بانکدارۍ او مالي انسټیټیوټ کې ۲۹ تنه کارکوونکو لپاره ۷ روزنیز پروګرامونه
- د ملکي خدمتونو په انسټیټیوټ کې ۵ تنه کارکوونکو لپاره روزنیز پروګرام
- د بیلا بېلو پوهنتونونو او انسټیټوټونو ۳۹ تنه محصلینو لپاره د کاري دورې ۴ عملي پروګرامونه
- د مرکز ۱۷ تنه کارکوونکو او د ولایتونو د نمایندګیو ۶ تنه کارکوونکو لپاره په کمپالا پوهنتون کې په انلاین ډول د یو کلن ډیپلوم د پروګرام د زمینې برابرول
- له هېواد څخه بهر په ۵۱ پروګرامونو کې د ۱۰۹ تنه کارکوونکو د ګډون د زمینې برابرول
- د ترکیې له مرکزي بانک سره د افغانستان بانک د تړون لاسلیکول چې د افغانستان بانک شاوخوا ۲۰۰ کارکوونکو لپاره د هېواد دننه او د ترکیې په هېواد کې روزنې رانغاړي.

۱. د شاوخوا ۵۰۰ تنه نوي مقرر شویو کارکوونکو د سوانحو اړوندو پاڼو ترتیب، ثبت او معامله او د دوی د سوانحو دفترونو او اړونده ډیټابس ته یې تبدیلول

۲. د ۸۵ تنه کارکوونکو د سوانحو د دوسیو د اړینو سندونو بشپړول چې د سوانحو د دوسیو اړین سندونه یې لا تر اوسه بشپړ نه ؤ.

۳. د مرکز د شعبو، ښاري څانګو، زونونو او نمایندګیو د ۱۷۰۰ کارکوونکو د ارزونې د اجرااتو، کنټرول، د سټیپونو د درج او معاملې په کمېسیون کې غړیتوب چې د ۱۳۹۲

کال په ترڅ کې تر ارزونې لاندې اجراء شوي دي.

۴. هندوستان هېواد د وارماتي کمپنۍ په همکارۍ د بشري منابع د نوي سیستم HRAIS ټریننګ، طرح او روزنه.

۵. د بشري منابع په نوي سیستم HRAIS کې د کارکوونکو د سوانحو د معلوماتو درجول؛ د بشري منابع کارکوونکي د ۱۳۹۲ کال له نیمایي څخه د مالي کال تر پایه پورې د بشري منابع په نوي سیستم کې د کارکوونکو د سوانحو د معلوماتو په درجولو بوخت ؤ چې هغه له ډلې د ۱۳۹۲ کال تر پایه پورې د مرکز د شعبو په سوانحو کې درج د ۱۳۰۰ تنه کارکوونکو معلومات بشپړ شوي دي.

۶. د علاقې د پرې کولو په صورت کې له۹۳۰ تنو څخه زیاتو کارکوونکو لپاره د مرکزي بانک ( د ۱۲۰ میاشتې فورمول) مطابق د متقاعدینو د حقوقو وېش او ورکړه.

۷. ۳۲ تنه کارکوونکو ته له ګرېډ څخه د متقاعدینو د حقوقو اجراء کول (د تقاعد نوې مقرره)

۸. د خدمت د خبرتیا د فورم ترتیبول، د ترفیع او تقاعد د ګمارل شوي کمېټې همغږي کول، د کارکوونکو د سوانحو د دوسیې له مخې د متقاعدینو د مخکنیو کلونو د حقوقو سنجشول.

**د ګمارنې برخه**

د ۱۳۹۲ کال د وري د میاشتې له پیل څخه د ۱۳۹۲ کال د کب د میاشتې تر ۲۹ نېټې پورې د بیلا بېلو پُستونو نوماندانو سره شاوخوا ۶۹ مخامخ مرکې ترسره شوي چې د افغانستان بانک د عامل پلاوي د بیلو تصویبونو او حکمونو په پایله کې ۲۵۸ تنه نوي کارکوونکي ګمارل شوي چې په مختلفو برخو کې یې په رسمي توګه کار پیل کړی دی.

همدا ډول ۳۳ کارکوونکي په بېلابېلو دلیلونو د بانک له بست څخه ګوښه(منفک) شوي او شاوخوا ۴۶ تنه کارکوونکي له یوې برخې څخه بلې برخې ته تبدیل شوي دي.

په دې موده کې بېلا بېلو پُستونو لپاره له ۲۵ څخه زیاتې لیکلي ازموینې ترسره شوي چې د اړتیا له مخې یې ځینې په مختلفو برخو کې ګمارل شوي دي.

شاوخوا پنځوس تنه د افغانستان بانک د مشر تابه پلاوي د حکمونو په بنسټ د بیلو استعلامونو له لارې د مالي چارو د څارنې لوی امریت ته ورپېژندل شوي څو په مجوزه ازموینه کې د بریالیتوب په صورت کې، د هغه امریت په تشو پُستونو کې وګمارل شي چې دا لړۍ جریان لري.

د بانک د ټولو برخو د تشکیلاتي چارټونو په ترتیب او تنظیم باندې کار په پرله پسې ډول دوام لري او تر اوسه پورې د ډېرو برخو بشپړ شوی دی.

**خدمات**

د افغانستان بانک د خدماتو لوی مدیریت چې یو تدارکاتي برخه ده په بیلا بېلو برخو کې یې لاندې خدمتونه ترسره کړي دي:

**روغتیایي کلینیک**

د افغانستان بانک روغتیایي کلینیک د کال له پیل څخه تر اوسه پورې ۵،۸۳۸ تنه د مرکز او اړونده ښاري څانګو کارکوونکي او د هغوي د کورنۍ غړي معاینه، درمل، پانسمان او د شدیدې ناروغۍ په صورت کې ورته پیچکارۍ زرق کړي دي او په دې برخه کې یې (۱۴۸) قلمه بېلا بېل درمل د ۸۵۵،۱۴۸ افغانۍ ټولیز قیمت سره او د روغتیایي کلینیک د اړتیا وړ یو شمېر طبي سامان الات چې ټولیز قیمت یې ۱۵،۴۴۵ افغانۍ کیږي، د مرکزي بانک د ناروغه کارکوونکو درمل لپاره پیرودلي دي. له همدې امله تر اوسه پورې د مصرف شویو درملونو ټولیز قیمت ۸۶۹،۵۹۳ افغانۍ کیږي. د یادونې وړ ده چې په مصرف شوي مبلغ کې یو اندازه درمل د ۱۳۹۱ کال څخه هم پاتې دي.

### ۱۶ جدول د ناروغانو شمېر او د درملو قیمت ښکاره کوي

| ۱ | د ناروغانو شمېر | ۵۸۳۸ تنه |
|---|---|---|
| ۲ | د پیرودل شوي درمل اندازه | ۱۴۸ قلمه |
| ۳ | د پیرودل شویو درملو قیمت | **۸۶۹،۵۹۳** افغانۍ |
| ۴ | د طبي سامان الاتو قیمت | **۱۵،۴۴۵** افغانۍ |
| ۵ | تر ۱۳۹۲/۹/۳۰ نېټې پورې د مصرف شویو درملو ټولیز قیمت | ۹۳۸،۶۰۷.۲ افغانۍ |

**ترانسپورټ:**

هره ورځ د مرکز د ښاري څانګو، د خصوصي بانکونو او د افغانستان بانک د ولایتونو د نمایندګیو د خزانو لېږد د ترانسپورټ د لوی مدیریت لخوا ترسره شوی دی.

په ورته وخت کې خصوصي بانکونو ته د مالي چارو د څارنې د ټیمونو او د رسمي دندو د ترسره کولو په موخه د نورو مامورینو لیږدول د دې مدیریت لخوا تنظیم شوی دی.

د یادونې وړ ده چې په ۱۳۹۲ کال کې د خصوصي بانکونو د تخنیکي موادو له لیږدولو څخه ۲،۲۰۳،۲۰۰ افغانۍ عاید په لاس راغلی دی چې په اړوند حساب کې شامل شوي دي.

**تعمیرات:**

د تعمیراتو برخه څرنګه چې له نوم څخه یې معلومیږي، د ودانیو د بیارغولو او په نوي بڼه جوړولو او همدا ډول د شعبو د حفظ او مراقبت کارونه ترسره کوي چې د دې برخې لخوا ترسره شوي فعالیتونه د فعالیت د تفکیک له نېټې او د کار د پرمختګ د سلنې له څرنګوالي سره په لاندې جدول کې ښکاره کیږي.

| شمېره | د کار نوعیت | د کار د پیل نېټه | د کار د پای نېټه | د کار د پرمختګ سلنه | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د مراد خانی ځمکې د کمپلکس د طرحې او ډیزاین د لومړي او دویم فاز بشپړول | ۹۲/۱/۲۷ | ۹۲/۵/۱۲ | ۱۰۰٪ بشپړ | |
| ۲ | د ختیځ زون د پاتې کارونو بشپړول | ۹۰/۱/۱۵ | ۹۲/۳/۱۷ | ۱۰۰٪ بشپړ | |
| ۳ | د شمال ختیځ زون د ودانۍ د ساختماني چارو پرمختګ | ۲۵/۱۲/۱۳۹۰ | اتلس کاري میاشتې | ۸۵٪ بشپړ | |
| ۴ | د سپین بولدک د بانک د ودانۍ جوړول | ۱۳۹۲/۳/۱۱ | یو کاري کال | ۶۰٪ بشپړ | |
| ۵ | د نورستان بانک د نوي ودانۍ جوړول | ۹۲/۴/۱۵ | یو کاري کال | ۵۵٪ بشپړ | |
| ۶ | د مرکزي بانک د ډوډۍ خوړلو د صالون بیا رغول | ۹۲/۳/۲۸ | ۹۲/۵/۱۱ | ۱۰۰٪ بشپړ | |
| ۷ | د ختیځ زون د فن کویل سیستم نصب او متاژ | ۹۲/۴/۲۸ | درې کاري میاشتې | ۱۰۰٪ بشپړ | |
| ۸ | د قلعه مراد بیک د ۱۲ جریبه ځمکې د احاطې جوړول | ۹۲/۹/۳۰ | درې کاري میاشتې | ۵۵٪ بشپړ | |
| ۹ | د افغانستان بانک د میمنې نمایندګۍ د ودانۍ د یو حلقې څاه کیندل | ۹۲/۸/۱۵ | ۱۳۹۲/۹۱۳ | ۱۰۰٪ بشپړ | |
| ۱۰ | د سبز ساحې او د افغانستان بانک د لویدیځ زون له پارکینګ څخه د اضافي خاورې لیږدول | ۹۲/۷/۱۵ | ۹۲/۸/۲۸ | ۱۰۰٪ بشپړ | |
| ۱۱ | د افغانستان بانک د ارزګان نمایندګۍ د پاتې کارونو اجراات | ۹۲/۵/۱۳ | کار جریان لري | کار جریان لري | |
| ۱۲ | د افغانستان بانک د پلخمري د نمایندګۍ د امنیتي برج جوړول | ۹۲/۶/۱۱ | ۹۲/۷/۱۰ | ۱۰۰٪ بشپړ | |
| ۱۳ | د افغانستان بانک د تخار د نمایندګۍ د نوي ودانۍ جوړول | ۹۱/۳/۲۷ | ۹۲/۳/۱۱ | ۱۰۰٪ بشپړ | |
| ۱۴ | د افغانستان بانک د شمال ختیځ زون د فن کویل د سیستم طرحه او ډیزاین | ۹۲/۳/۱۱ | ۹۲/۴/۱۷ | ۱۰۰٪ بشپړ | |
| ۱۵ | د افغانستان بانک د امریتونو د متفرقه کارونو بیا رغول | د کال له پیل څخه | تر اوسه پورې | ۱۰۰٪ بشپړ | |
| ۱۷ | په مرکز او ښاري څانګو کې د تعمیراتو د مدیریت د بیا رغولو او ترمیمولو برخه | د ۹۲ کال له پیل څخه | د ۹۲ کال تر پای پورې | د مرکز او نمایندګیو بیلابېلې ساحې | |



جریان تحویل دهی تحایف جلالتماب محترم حامد کرزی رییس جمهوری اسلامی افغانستان به د افغانستان بانک



جریان جلسه عقد قرار داد سیستم تادیات



کنفرانس مطبوعاتی در مورد نشر پول جدید ۱۰۰۰افغانگی



جریان مصاحبه محترم دلاوری رییس کُل د افغانستان بانک



جریان بازدید رییس کُل د افغانستان بانک از سیستم جدید سوانح کارمندان



جریان جلسه شورای عالی د افغانستان بانک



جریان کنفرانس مطبوعاتی در مورد ثبت اعتبارات عامه



جریان افتتاح کمره های امنیتی د افغانستان بانک



نشست هیئت رهبری و تعداد از آمرین در روز وداع با کارمندان متقاعد



جریان افتتاح سیستم دیجیتلی سوانح کارمندان د افغانستان بانک